

# مارکسیزم او د ژبپوهنې مسئلې

جوزوف ستالین

ژباړن: فرهاد ویار

# مارکسیزم

# او ژبپوهنې مسئلې

جوزوف ستالین

ژباړن: فرهاد ویاړ

مارکسیزم او د ژبپوهنې مسئلې

جوزوف ستالین

ژباړه: فرهاد ویاړ

بریښنایي خپریدنه: ۱۳۹۸

«مارکسیزم او د ژبپوهنې مسئلې» د جوزوف ستالین رساله ده چې د لومړي ځل لپاره پښتو ته ژباړل کیږي. د دې کار لپاره مې د انګلیسي ژباړې هغه نسخه غوره کړې چې په ۱۹۵۴ کال کې په مسکو کې خپره او په ۱۹۷۱ کال کې د چین ولسي جمهوریت له سره چاپ کړې ده.

که څه هم د ژبپوهنې اړوند مسائل پیچلي او اړینې اکاډمیکي او تخصصي پوهې ته اړتیا لري، خو ما تر خپل وسه هڅه کړې چې دا ژباړه ساده او د پوهیدو وړ وي.

هیله مندیم چې د لا پوهیایي په برخه کې ګټوره تمام شي.

**ویاړ**

# لیکلړ


مارکسیزم او د ژبپوهنې مسئلې ........................................................ ۱

د ژبپوهنې د ځینو مسئلو په اړه ........................................................ ۳۷

ملګرو ته ځواب ........................................................ ٤٦

ملګري سانژیف ته........................................................ ٤٦

ملګرو د. بلکین او س. فورر ته ........................................................ ٤٨

ملګري ا. خولوپف ته ........................................................ ٥٢

# مارکسیزم او د ژبپوهنې مسئلې[1]

د ځوانو ملګرو یوې ډلې له ما غوښتي چې په مطبوعاتو کې د ژبپوهنې د مسئلو، په ځانګړي توګه د ژبپوهنې په اړه د مارکسیزم د لید په تړاو خپل نظر ووایم. زه ژبپوه نه یم او د همدې لپاره په هیڅ ډول نشم کولای د دې ملګرو غوښتنه،څرنګه چې اړینه ده، پوره کړم. خو له مارکسیزم سره، څه د ژبپوهنې او څه هم په نورو ټولنیزو علومو کې آشنایي لرم او له همدې امله مې منلې چې د ملګرو ځینو پوښتنو ته ځواب ووایم.

**پوښتنه:** آیا دا سمه ده چې ژبه پر بیخبنا ودریدلی مخبنا ده؟

**ځواب:** نه، سمه نه ده.

بیخبنا د ټولنې د پرمختیا (تکامل) په یوه ټاکلي پړاو کې د ټولنې اقتصادي جوړښت دی. مخبنا، د ټولنې سیاسي، حقوقي، دیني، هنري او فلسفي لید رانغاړي او سیاسي، حقوقي او نور سازمانونه د همدې لید سره تړاو لري. هره بیخبنا خپله اړونده مخبنا لري. د فئوډالي سیستم بیخبنا، خپله مخبنا لري، خپل سیاسي، حقوقي او دا ډول نور باورونه او تر څنګ یې خپل اړونده سازمانونه

---

[1] د ستالین د «مارکسیزم او د ژبپوهنې مسئلې» مقاله د ۱۹۵۰ کال د جون په ۲۰ مه په پراودا کې خپره شوه. مخکې له دې، په پراودا کې د شوروي د ژبپوهنې د مسئلو په اړه بحث پیل شوی و. دا مقاله د ملګري ستالین لخوا د شوروي د یوې ډلې زده کړیالانو په ځواب کې لیکل شوی چې د بحث په اړه یې له هغه پوښتنې کړی وی. د پراودا په کالمونو کې دا مقالې خپرې شوی وی:«د ماتریالیستی ژبپوهنې بهیر» (د بولواخوسکي د علومو اکراییني اکاډیمي د غړو لیکنه)، «د روسي د ژبپوهنې تاریخ او د مارکسیزم تئوري» (د نیکیفوروف لیکنه) « دژبې د طبقاتي ځانګړتیا مسئلې» (د کودریتستف لیکنه) او نورې.

لري. د پانګوالۍ نظام او همدا ډول د سوسياليستي سيستم بيخبناوې هم خپلې مخبناوې لري. د بيخبنا له بدلون يا نابودۍ سره، له هغه سره اړونده مخبنا هم بدلون مومي يا نابوديږي، څرنګه چې د نوې بيخبنا له پيدا کيدو سره نوې اړونده مخبنا هم راپيدا کيږي.

د پورتنيو توضيحاتو په رڼا کې، ژبه له مخبنا سره له ريښې توپير لري. د ساري په توګه د روسيې ټولنه او روسي ژبه په پام کې ونيسئ. د تيرو ديرشو کلونو په ترځ کې د روسيې د پانګوالۍ سيستم بيخبنا ړنګه او نوې سوسياليستي بيخبنا جوړه شوه. له دې سره سم د پانګوالۍ نظام پر بيخبنا باندې ولاړه مخبنا نابوده او نوې مخبنا چې له سوسياليستي نظام سره متناسبه وه، رامينځته شوه. له دې بدلون سره؛ پخوانيو سياسي، حقوقي او نورو بنسټونو خپل ځايونه نوي سوسياليستي بنسټونو ته ورکړل، خو له دې ټولو سره سره روسي ژبه اساساً همغسې پاتې شوه، څنګه چې د اکتبر انقلاب دمخه وه.

روسي ژبې په دې موده کې څه تغييرات وموندل؟ تر يوې اندازې پورې د روسي ژبې قاموس بدلون وموند. يو شمير نوي لغاتونه او اصطلاحات، چې د نوي سوسياليستي توليد، د نوي دولت، د نوي سوسياليستي کلتور، د نوي ټولنيزو اړيکو او اخلاقياتو له رامينځته کيدو او همدا ډول د ټکنالوجۍ او علومو له پرمختيا سره يې تړاو درلود، په قاموس کې ورزيات شول. د ځينو لغاتونو او اصطلاحاتو ماناګانې بدلې شوې، نوي مفهمونه يې پيدا کړل او يو شمير زړې کليمې له قاموس څخه حذف شوې. خو د روسي ژبې د کليمو اصلي زيرمه او ګرامري سيستم، چې د ژبې بنسټ جوړوي، د پانګوالۍ د بيخبنا له ړنګيدو وروسته، بې له دې چې د کليمو کومه نوې زيرمه او ګرامري سيستم رامينځته شي، په خپل اصلي حالت کې پاتې او له کوم مهم بدلون پرته، د عصري روسي ژبې اساسي بنسټ جوړوي.

ښايي ورزياته کړم چې مخبنا د بيخبنا محصول دی. خو دا قطعاً په دې مانا نه ده چې مخبنا دې يوازې د خپلې بيخبنا، د طبقاتو د برخليک او د سيستم د ځانګړتياوو منفعله، شنډه او بې پرې منعکس کوونکي وي. د دې خلاف، مخبنا له پيدايښت سره سم د يو اغيزناک ځواک په توګه په فعاله ډول له بيخبنا سره مرسته کوي چې خپله بڼه پيدا کړي، پياوړې شي او له نوي سيستم سره کمک کوي چې زړه بيخبنا او زاړه طبقات له مينځه ويسي.

له دې پرته بله لار هم نشته؛ مخبنا د بيخبنا په وسيله د دې لپاره رامينځته کيږي چې هغه ته خدمت وکړي، په فعال ډول له هغه سره کمک وکړي چې خپله بڼه پيدا کړي او پياوړې شي، د مړيژنې بيخبنا او د هغه زړې مخبنا د دواړو د نابودۍ لپاره په فعاله ډول وجنګيږي.که مخبنا له دې کمکي رول څخه ډډه وکړي او د خپلې بيخبنا د فعال مدافع څخه په يو شنډ څيز بدل شي او د ټولو طبقاتو په وړاندې يو شان چلند غوره کړي، د مخبنا په توګه به خپله ځانګړنه له لاسه ورکړي او نوره به مخبنا نه وي.

همدا دی چې ژبه له مخبنا سره له بنسټه توپير لري. ژبه په يوې ځانګړې ټولنه کې د يوې زړې يا نوې بيخبنا زيږنده نه ده. ژبه د پيړيو پيړيو تاريخي بهير او په هغه کې د شته بيخبناوو د تاريخ محصوله ده. ژبه يوازې د يوې طبقې لخوا نه ده جوړه شوی، بلکې د ټولې ټولنې لخوا، د ټولو ټولنيزو طبقاتو لخوا او د سلګونو نسلونو د زيار او هاند په پايله کې رامينځته شوی ده. ژبه يوازې د يوې ځانګړې طبقې د اړتياوو د پوره کولو لپاره  نه ده رامينځته شوی، بلکې د ټولې ټولنې او د ټولو ټولنيزو طبقاتو اړتياوې پوره کوي. د همدې دليل پر اساس، يوه واحده ژبه د ټولې ټولنې لپاره، د ټولنې د ټولو غړو لپاره، د ټولو خلکو د مشترکې ژبې په توګه رامينځته شوی ده. د دې لپاره د خلکو تر منځ د اړيکو د افزار په توګه، د ژبې دنده يوې طبقې ته چوپړتيا او د نورو طبقاتو

ځېل نه، بلکې ټولې ټولنې او ټولو ټولنيزو طبقاتو ته په مساوي توګه خدمت دی. دا په حقيقت کې ښکاره کوي چې ولې ژبه ښايي، دواړو زوړ او مړيژن سيستم او نوي او غوړيدونکي سيستم؛ دواړو، زړې بيخبنا او نوې بيخبنا او دواړو، زبيښاکګرو او ستمځپلو ته په مساوي ډول خدمت وکړي.

له چا پټه نه ده چې روسي ژبه، د اکتبر انقلاب دمخه د روسيې پانګوالی او د روسيې د بورژوايي فرهنګ په خدمت کې وه، څرنګه چې نن د روسيې د سوسياليستي ټولنې د نظام او کلتور په خدمت کې ده. ورته خبره د شوروي اتحاد د نورو ژبو لکه اوکراييني، بلاروسي، ازبکي، کازاخي، ګرجي، ارمني، استونيايي، ليتويني، ليتوانيايي، مالداوي، تاتاري، آذري، باشکيراني، ترکمني او نور ژبو په اړه هم کولی شوو، چې دې ژبو د دې ملتونو د پانګوالی زاړه نظام ته خدمت کوو، څرنګه چې اوس نوي سوسياليستي سيستم ته خدمت کوي.

بل ډول کيداي هم نشي. ژبه د دې لپاره موجوده او رامينځته شوی چې د ټولې ټولنې په چوپړ کې وي، د خلکو تر منځ د اړيکو د وسيلې په توګه عمل وکړي، د ټولنې ټولو غړو ته عامه وي او د ټولنې د واحدې ژبې په توګه، د ټولنې ټولو غړو ته په مساوي ډول خدمت وکړي، بی له دې چې د هغوې طبقاتي وضعيت په پام کې ونيسي. که چيرې يوه ژبه د ټولو خلکو لپاره د عامتيا ځانګړنه له لاسه ورکړي او د يوې ټولنيزې ډلې په ځپلو سره د بلې ټولنيزې ډلې ملاتړ ته ارجحيت ورکړي، خپل اهميت له لاسه ورکوي او د خلکو تر منځ د اړيکو د وسيلې په توګه نه کارول کيږي، بلکې د ځينو ټولنيزو ډلو د مخصوصو اصطلاحاتو بڼه مومي چې برخليک يې تري تم کيدنه او نابودي ده.

که ژبه له مخبنا سره له اساسه توپیر لري، له بلې خوا د تولیدي وسایلو او د ماشین په څیر خپل رول لوبوي.څرنګه چې تولیدي وسایل او ماشینونه هم پانګوال او هم سوسیالیستي سیستمونو ته په بی پرییتوب خدمت کوي، ژبه هم کټ مټ دغه ډول دنده تر سره کوي.

ښایي زیاته کړم چې مخبنا د یو ټاکلي تاریخي پېر او په هماغه تاریخي پېر کې د ټاکلي فعالې اقتصادي بیخبنا محصول دی. همدا لامل دی چې د مخبنا عمر لنډ او د بیخبنا له شتون سره تړاو لري. د بیخبنا له نابودۍ او محوه کیدو سره، د هغه اړونده مخبنا هم محوه او له مینځه ځي. خو، ژبه د مخبنا په خلاف، د یو شمیر پرله پسې تاریخې پېرونو محصوله ده چې په دې موده کې یې خپله بڼه موندلې، بډایه شوې، پرمختګ یې کړی او له روانتیا برخمنه شوې ده. همدا دی چې ژبه د هر ډول بیخبنا او مخبنا په پرتله دومره زیات عمر کوي چې له اندازې بهر دی. همدا یې لامل دی چې د تاریخ په اوږدو کې د یوې بیخبنا او هغه پورې د اړوندې مخبنا راپیداکیدل او تری تم کیدل څه، چې ان د څو بیخبناوو او اړوندو مخبناوو پیدایښت او تري تم کیدل هم د دې لامل شوي نه دي چې یوه ټاکلې ژبه دې له منځه لاړه شي، ګرامري جوړښت یې محوه شي او په ځای یې یوه نوې ژبه د کلیمو د نوې زیرمې او نوي ګرامري سیستم سره رامینځته شي.

د پوشکین له مړینې څه باندې سل کاله تیریږي. په دې موده کې په روسیه کې د فئوډالي او پانګوالې نظامونه نابود شوي او سوسیالیستي نظام د دریم نظام په توګه رامینځته شوی دی. دوه بیخبناووې له خپلو مخبناووې سره نابودې شوي دي او د سوسیالیزم نوې بیخبنا له خپل نوي مخبنا سره رامینځته شوی ده. که چیرې موږ د بیلګې په توګه روسي ژبه راوخلو نو ګورو چې په

دې اوږده پېر کې دې ژبې دومره بنسټيز بدلون نه دی موندلی. د عصري روسي ژبې جوړښت د پوشکين له ژبې سره ډېر کم توپير لري.

په دې موده کې په روسي ژبه کې څه بدل شوي دي؟ په دې موده کې د روسي ژبې د لغاتونو قاموس بډایه شوی، زيات شمير زاړه لغتونه له قاموس څخه ايستل شوي، د يو شمير زياتو کليمو مانا بدله شوی او د ژبې ګرامري جوړښت پياوړی شوی دی. خو د پوشکين د ژبې جوړښت د هغه د ګرامري سيستم او د کليمو د اصلي زيرمو سره لا د عصري روسې ژبې بنسټ جوړوي. دا د پوهيدنې وړ خبره ده.

رښتيا څه اړتيا ليدل کيږي چې د هر انقلاب وروسته د موجودې ژبې جوړښت، ګرامري نظم او د کليمو زيرمه، لکه څنګه چې د مخبنا په اړه تر سره کيږي، نابوده او د هغه پر ځای نوي څه وکارول شي؟ په دې کې څه ګټه ده چې «اوبه»، «ځمکه»، «غر»، «ځنګل»، «کب»، «سړی»، «قدم وهل»، «تر سره کول»، «توليدول»، «سوداګري» او... «اوبه»، «ځمکه»، «غر» او... نه وي او د هغوې پر ځای نورې کليمې وکارول شي؟ په دې کې څه ګټه ده چې په ژبه کې د لغتونو ادلون ـ بدلون او په جمله کې د کليمو ترکيبول د اوسنې ګرامري سيستم له مخې ونه کارول شي او بيخي بل ګرامر رامينځته شي؟ انقلاب په ژبه کې د دې ژور بدلون څخه څه ګټه تر لاسه کوي؟ په تاريخ کې په ټوليزه توګه هيڅ يوه مهمه چاره بی له ځانګړي اړتيا نه پيښيږي. که يو څوک وپوښتي په داسې حال کې چې موجوده ژبه او د هغه جوړښت په بنسټيز ډول د نوي سيستم له اړتياوو سره اړخ لګوي، نو آيا د ژبني انقلاب لپاره اړتيا شته، څه ځواب ورکولی شوو؟په ټولنه کې د مولده ځواکونو د آزاد پرمختګ لپاره ښايي او کيدای هم شي چې زړه مخبنا د څو کلونو په ترڅ کې نابوده او نوې مخبنا د هغه ځای ونيسي. خو څنګه کيدای

شي د څو کلونو په ترڅ کې شته ژبه نابوده کړو او په ځای یې نوې ژبه رامینځته کړو، پرته له دې چې ټولنیز ژوند ګډوډ کړو او ټولنه د ویشلو له ګواښ سره مخ کړو؟ څوک دا دنده په غاړه اخیستی شي، پرته له یو دون کیشوت څخه؟!

په پای کې د مخبنا او ژبې تر منځ یو بل اساسي توپیر ته اشاره کوو. مخبنا په مستقیمه توګه د تولید او د انسان له تولیدي فعالیتونو سره اړیکه نلري او یوازې د اقتصاد له لارې، د بیخبنا له لارې د تولید سره نامستقیمه اړیکه لري. همدا دی چې مخبنا نشي کولای په مولده ځواکونو کې بدلون ژر او په مستقیمه توګه منعکس کړي، بلکې کولای شي په بیخبنا کې د بدلونونو وروسته دې بدلونونو ته انعکاس ورکړي. نو د دې لپاره د مخبنا د کړنې ډګر کوچنی او محدود دی.

ژبه د مخبنا په عکس، د انسان له ټولو تولیدي فعالیتونو سره سیده اړیکه لري، نه یوازې د انسان له تولیدي فعالیتونو، بلکې د انسان د کاري چاپیریال له اړوندو ټولو کړنو سره، له تولید څخه تر بیخبنا او له بیخبنا څخه تر مخبنا پورې اړیکه لري. د همدې لپاره ژبه په تولید کې بدلونونه ژر او په سیده توګه منعکسوي، بی له دې چې بیخبنا کې بدلونونو ته په تمه پاتی شي. همدا دی چې د ژبې د عمل ډګر، چې د انسان د کړنو ټولې برخې رانغاړي، د مخبنا په پرتله ډېر پراخه او هر اړخیز دی. د دې تر څنګ دا ډګر تقریباً نامحدود دی.

دا چې ولې ژبه او ترجیحاً د ژبې لغوي زیرمه په دایمې توګه بدلون مومي، لامل یې د ژبې د عمل ډګر او مستقیمه اړیکه ده. د صنعت او کرنې، د سوداګرۍ او ترانسپورت، د تکنالوجۍ او ساینس دوامداره پرمختیا دا اړینوي چې ژبه خپله لغوي زیرمه له نویو کلیمو او اصطلاحاتو سره پیاوړې کړي څو

هغه اړتیاوې چې دا برخې یې د کاروني لپاره لري، پوره شي. ژبه په مستقیم ډول دا نوې اړتیاوې منعکسوي او خپله لغوي زیرمه له نویو کلیمو سره پیاوړی او خپل ګرامري سیستم بشپړوي.

نو ویلی شوو چې:

۱. یو مارکسیست نشي کولای ژبه د یوې بیخبنا، یوه مخبنا وګڼي؛

۲. د مخبنا او ژبې مغشوشول ستره تیروتنه ده.

**پوښتنه:** آیا دا سمه ده چې ژبه تل طبقاتي وه او طبقاتي ده او د ټولنې لپاره داسې یوه واحده او مشترکه ژبه، چې غیر طبقاتي وي او د ټولو خلکو لپاره ګډه ژبه وګڼل شي، شتون نلري؟

**ځواب:** نه، دا سمه نه ده.

 په دې مسئلې پوهیدل کوم ستونزمن کار نه دی چې په هغو ټولنو کې چې طبقات نه وي، هلته د طبقاتي ژبې غوندې له یوې مسئلې وغږیږو. د لومړني کمون په طایفه ای ټولنه کې طبقات موجود نه وو او د همدې لپاره طبقاتي ژبې هم شتون نه درلود. د ټولې ټولنې، ژبه واحده او مشترکه وه. د لومړني کمون په ګډون، د ټولو انساني ټولنو لپاره د طبقې له مفهوم څخه کار اخیستنه، له کلیماتو سره  هغه لوبه ده چې ردولو ته یې اړتیا نشته. دا به ډیر ساده توب وي چې وغواړو له کلیمو سره د لوبې له لارې د طبقې مفهوم د ژبې په ګډون پر هر څه وتپو. له طایفه ای ژبو څخه قبیله اي ژبو ته، له قبیله اي ژبو څخه د ملیتونو ژبو ته او له ملیتونو ژبو څخه د ملتونو ژبو پورې د ژبې وروستي پرمختیا ښکاره کوي چې ژبې د اړیکو د وسیلې په توګه د هرې ټولنې خلکو ته، بی له دې چې د هغوې ټولنیز وضعیت په پام کې ونیسي، په

مساوي ډول خدمت کړي، او دا خدمت يې د خپلې پرمختيا په هره کچه کې تر سره کړی دی.

زما موخه دلته د مريیتوب پېر يا د منځني پېړۍ له امپراتوريانو نه دی. په دې پېر کې د کورش او اسکندر او سزار او شارلماني امپراتوريانو ځان ته کوم اقتصادي بنسټ نه درلود او پوځ يې بې ثباته او اداري سازمانونه يې هم لنډمهاله وو. په دې امپراتوريانو کې واحده او ګډه ژبه چې ټول خلك وربانديې پوه شي، شتون نه درلود. دا امپراتورۍ، د قبيلو او مليتونو هغه ګډوله وه چې هرې امپراتورۍ يې ځانګړی ژبه او د ژوند خاص چلند درلود. نو، زما موخه دلته دا امپراتوريانې او يا ورته نور نظامونه نه دي، بلکې هغه قبيلې او مليتونه زما موخه جوړوي چې د دې امپراتوريانو په منځ کې او يا د هغوې د یوې برخې په توګه يې خپل اقتصادي بنسټونه او ځانګړی لرغوني ژبه درلوده.تاريخ موږ ته وايي چې د دې قبيلو او مليتونو ژبې طبقاتي ژبې نه وی او د دې قبيلو او مليتونو ټول اړوند خلك په دې ژبو پوهيدل.

د دې ژبو تر څنګ، البته چې ګړدودونه او مورنۍ ژبې هم موجودې وې، چې د قبيلو او مليتونو د واحدې او مشترکې ژبې تر واکمنۍ لاندې وی. دې مشترکې ژبې، ګړدودنه او مورنۍ ژبې تر خپل ايل لاندې راوستلی. وروسته، د پانګوالۍ د راڅرګنديدو او د فئوډالي سيستم د نابودۍ او د ملي بازارونو له پيدايښت سره، دا منفرد او بيلابيل مليتونه په واحدو ملتونو بدل شول او همدا ډول د مليتونو ژبې د ملتونو ژبو ته واوښتې. تاريخ ښکاره کوي چې ملي ژبې طبقاتي ژبې نه وی، بلکې مشترکې ژبې وی، هغه ژبې وی چې د ملتونو ټول وګړي وربانديې پوهيدل او د ملتونو د واحدې ژبې په توګه ګڼل کيدې.

پورته وويل شول چې ژبه د خلکو د اړيکو د وسيلې په توګه، د يوې ټولنې ټولو طبقاتو ته په مساوي ډول خدمت کوي او په دې ډول د طبقاتو په وړاندې بی پرې ده. خو خلك، بيلابيلې ټولنيزې ډلې او طبقات د ژبې په وړاندې بی پرې چلند نه لري. دوې کوښښ کوي د خپلو ګټو لپاره ژبه وکاروي، خپله ځانګړې صنفي ژبه، خپل ځانګړي اصطلاحات او ځانګړي عبارتونه پر مشترکې ژبې وتپي. د شتمنو طبقاتو لوړپوړي ډلګۍ چې له خلکو يې ځانونه بيل کړي او له خلکو کرکه لري، په ځانګړي توګه اعيان اشراف او د بورژوازي لوړپوړي ډلګۍ هڅه کوي ځانونه د ژبې په برخه کې له خلکو جلا کړي. «طبقاتي» ګړدودونه، ځانګړي اصطلاحات او د لوړپوړي ټولنې«ژبه»، هغه څه دي چې د دوې په وسيله رامينځته شوي دي. دا ګړدودونه او ځانګړي اصطلاحات اکثراً په ناسم ډول په ادبياتو کې د ژبې په توګه پيژندل کيږي او په دې ډول د«اشرافيت ژبه» يا د «بورژوازي ژبه» له «پرولتاريايي ژبې» يا له «دهقاني ژبې» څخه توپيروي. همدا دی چې په ډيرې حيرانتيا سره ليدل کيږي چې زموږ ځينې ملګري دې پايلې ته رسيږي چې ملي ژبه يوه افسانه او وهم دی او په حقيقت کې څه چې لرو هغه طبقاتي ژبه ده.

زما په اند، دا پايله ډيره غلطه ده. آيا دا ګړدودونه او ځانګړي اصطلاحات، ژبه کيدای شي؟ ښکاره ده چې نه! ځکه کيدای نشي چې: لومړی، دا ګړدودنه او ځانګړي اصطلاحات خپل ګرامري سيستم او اساسي لغوي زيرمه نه لري، دا دواړه له ملي ژبې څخه پوروي. دويم، د دې ګړدودونو او ځانګړو اصطلاحاتو ساحه ډيره محدوده ده او دا وخت يوازې د معينې طبقې په اعيانې برخې کې کارول کيږي او د ټولنې د ټولو خلکو لپاره د اړيکو د ابزار په توګه وړ نه ده. نو بيا دا ګړدودونه او د يو صنف ځانګړي اصطلاحات له ځانه

څه لري؟ دا د ځانګړو کليمو هغه ټولګه ده چې د اشرافيت او د بورژوازي د اعياني برخې ذوق منعکسوي؛ يو شمير اصطلاحات او عبارات دي چې توپير يې په نګه توب او شاندارتيا کيږي او د ملي ژبې له «زيږو» اصطلاحاتو او عباراتو څخه ځان پاکوي؛ او بالاخره يو شمير بهرنۍ کليمې دي. خو د خپلو بنسټونو تر څنګ ډيرۍ اکثريته کليمې او ګرامري سيستم له ملي مشترکې ژبې پوروي. ګړدودونه او د يو صنف ځانګړي اصطلاحات د همدې لپاره د مشترکې ملي ژبې ځانګې دي، چې د ژبني خپلواکۍ څخه بې برخې او محکوم په انحطاط دي. دا باور درلودل چې ګړدودونه او د يو صنف خاص اصطلاحات کيدای شي په يوې خپلواکې ژبې بدل شي او د دې وړتيا پيدا کړي چې ملي ژبه څنډۍ ته او د هغه ځای ونيسي، د تاريخي ليد هيرونه او د مارکسيستي دريځ د پريښودنې په مانا ده.

ځينې د مارکس د «سپيڅلي ماکس» ليکنه راوړي چې په کې مارکس وايي بورژوازي «خپله ژبه» لري او دا ژبه د «بورژوازي محصوله ده»[2] او په سوداګريزه روح سمبال ده. يو شمير ملګري دا عبارت رانقلوي چې ثابت کړي چې مارکس د ژبې پر «طبقاتي ځانګړتيا» باور درلود او واحده ملي ژبه يې ردوله. که چيرې دا ملګري منصفانه چلند وکړي، نو دوی بايد د مارکس د همدې مقالې يوه بله برخه رانقل کړې وی، چې هلته مارکس د ملي ژبو د رامينځته کيدو پر لارو غږيږي، او وايي چې«د اقتصادي او سياسي تمرکز په پايله کې بيلابيل ګړدودونه په واحده ملي ژبه کې راغونډ شول».[3]

---

[2] کارل مارکس او فردريخ انګلس، آثار، برلين، ۱۹۵۸، دريم ټوک، مخ ۲۱۲.

[3] هماغه اثر، مخونه ۴۱۲-۴۱۱.

مارکس، په پایله کې، د ژبې د عالي بنې په توګه پر واحدې ملي ژبې باور درلود، چې ګړدودونه د ژبې د ادنی بڼې په توګه تر خپل ایل لاندې راولي.

دا د بورژوازي ژبه چې مارکس وایي «د بورژوازي محصوله ده» څه کیدای شي؟ آیا مارکس دا ژبه هغه ملي ژبه ګڼله چې خپل خاص ژبنی جوړښت لري؟آیا د هغه موخه همداسې یوه ژبه وه؟ ښکاره ده چې نه! مارکس یوازې غوښتل ووایي چې بورژوازي، واحده ملي ژبه له خپلې خاصې صنفي سوداګریزې ژبې سره ککړوي؛ یا په بله وینا، بورژوازي خپل خاص سوداګریز صنفي اصطلاحات لري.

نو څرګندیږي چې دې ملګرو د مارکس خبرې تحریف کړی دي. د دې تحریف لامل دا دی چې دوی له مارکس څخه د یو مارکسیست په توګه نه، بلکې د یو متګور (دګماتیست) په توګه، بی له دې چې د موضوع په منځپانګه کې پلټنه وکړي، خبره رانقل کړی ده.

«په انګلستان کې د کارګرې طبقې وضعیت» تر عنوان لاندې د انګلس لیکنه، هغه بله سرچینه ده چې د سند په توګه راخیستل کیږي. انګلس لیکي چې په بریتانیا کې«...کارګره طبقه ورو ورو د انګلستان له بورژوازۍ څخه په یو جلا ملت بدلیږي» او «کارګران له بورژوازۍ څخه په جلا ګړدود خبرې کوي، بیل اند او نصب العین لري، دودونه او اخلاقي آرونه یې توپیر لري، همدا ډول د دین او سیاست په اړه یې دریځ هم له بورژوازۍ سره توپیر لري.»[4] ځینې ملګري له دې مقالې داسې استنباط کوي چې ګواکې انګلس د عامې ملي ژبې اړتیا ردوي او د ژبې پر «طبقاتي ځانګړتیا» باور لري. سمه ده چې

[4] هماغه اثر، مخونه ۴۱۲-۴۱۱.

انګلس دلته له ګړدودونو غبریږي نه له ژبو څخه؛ خو له دې بشپړې پوهیدنې سره چې ګړدودونه د ژبې د څانګو په توګه د ملي ژبې ځای نیولی نشي. خو څنګه چې ښکاري دا ملګري د ژبې او ګړدود تر منځ له شته توپیر سره کومه لیوالتیا نلري.

ښکاره ده چې دا نقل قول د پورتنی ادعا لپاره وړ نه دی. ځکه انګلس دلته له «طبقاتي ژبې» نه غبریږي، بلکې له طبقاتي فکر، نصب العین، دودونو، اخلاقي معیارونو، دیني دریځ او سیاست څخه خبرې کوي. دا بیخي سمه خبره ده چې د بورژوازي او پرولتاریا فکرونه، نصب العینونه، دودونه، اخلاقي آرونه، دیني او سیاسي دریځ له یو بل سره مخالف دي. خو دا توپیرونه د واحدې ملي ژبې او د ژبې له «طبقاتي ځانګړتیا» سره څه تړاو لري؟ آیا په ټولنه کې د طبقاتي تضاد شتون، کولای شي د ژبې «طبقاتي ځانګړتیا» د ادعا په ملاتړ او د واحدې او ملي ژبې د اړتیا د ردولو لپاره کارنده تمام شي؟ مارکسیزم سره له دې چې په ټولنه کې پر طبقاتي تضادونو کلک باور لري، خو سره د دې، ګډه ژبه د یو ملت د جوړیدنې یو بنسټیزه ځانګړنه ګڼي. آیا ملګري دا مارکسیستي تېز قبلوي؟

له لافارګ[٥] څخه هم نقل قول کیږي او ویل کیږی چې هغه په («فرانسوي ژبه: له انقلاب مخکې او وروسته») رساله کې د ژبې «طبقاتي ځانګړتیا» منلی او د ټولو خلکو لپاره یې د مشترکې ملي ژبې اړتیا رد کړی ده. دا سمه نه ده.

---

[٥] پل لافارګ (۱۹۱۱-۱۸۴۲)، د فرانسې او د نړیوال کارګري غورځنګ اوځار فعال او فوق العاده مارکسیست مروج او مبلغ و. لافارګ د فرانسې د کارګرانو ګوند یو تن بنسټ ایښودنکی و، د مارکس او انګلس شاګرد او نژدی کس او د مارکس د لور (لورا) خاوند و.

لافارګ په حقیقت کې د «اشرافیانو» یا د «نجیبانو ژبې» او د هغوې د بیلابیلو ډلګیو له «خاصو صنفي اصطلاحاتو» خبره کوي. خو دا ملګري هیروي چې لافارګ چې د ژبې  او د خاصو اصطلاحاتو له توپیر سره لیوالتیا نه درلوده، یوځای کې ګړدودونه «ساختګي ژبه» او بل ځای کې یې «خاص صنفي اصطلاحات» یادوي. یقیناً، چې هغه په خپله رساله کې ویلی دي چې «ساختګي ژبه، چې اشرافیان له نورو بیلوي... له هغې ژبې رامینځته شوی چې د ټولو خلکو لپاره مشترکه ده، هغه ژبه چې هم وربانديې بورژوازي خبرې کوي او هم صنعتګران، هم وربانديې ښاریان خبرې کوي او هم کلیوال».

له دې سره، لافارګ د هغې مشترکې ژبې شتون او اړتیا قبلوي چې د ټولو خلکو لپاره د پوهیدنې وړ وي. هغه په ښه توګه پوهیږي چې د «اشرافیانو ژبه» او نور ګړدودونه او ځانګړي صنفي اصطلاحات د ټولو خلکو د مشترکې ژبې تابع دي او له ملي ژبې سره تړاو لري. نو، د ژبې «طبقاتي ځانګړتیا» د اثبات لپاره، د سرچینې په توګه د لافارګ کارول، یوه بابیزه هڅه ده.

همدا ډول دې حقیقت ته هم استناد کیږي چې یو وخت په انګلستان کې فئوډالانو «د پیړیو لپاره» په فرانسوي ژبه خبرې کولی په داسې حال کې چې د خلکو ژبه انګلیسي وه. دوې غواړي له دې استناد څخه د ژبې «طبقاتي ځانګړتیا» د ادعا د ثبوتولو او د ملي مشترکې ژبې د شتون له اړتیا سره د مخالفت لپاره ګټه پورته کړي. خو دا خبره د دلیل پر ځای ډیر حکایت ته پاتی کیږي!!

لومړی، ټولو فئوډالانو دغه وخت په فرانسوي ژبې خبری نه کولی، بلکې د انګلیس فئوډالې طبقې یوې کوچنۍ جګپوړې برخې چې دربار او درباري سیاسي غونډو کې یې ګډون کوو، په فرانسوي ژبې خبرې کولی. دویم، دا

کومه «طبقاتي ژبه» نه وه چې دوې ورباندې غږېدل، بلکې هغه عادي فرانسوي ژبه وه چې ټول فرانسویان ورباندې غږېدل. دریم، په دې پوهېږو چې د وخت په تیریدو سره دا فرانسوي ژبه بی له دې چې له ځانه کومه نښه پرېږدي، ورکه شوه او خپل ځای یې انګلیسي ژبې ته، چې د ټولو خلکو مشترکه ژبه وه، پرېښود. آیا دا ملګري ګمان کوي چې انګلیسي فئوډالانو «د پیړیو لپاره» د ژباړونکو له لارې د انګلستان له خلکو سره اړیکې ټینګولې؟ دوې انګلیسي ژبه نه کاروله؟ آیا دا ملګري ګمان کوي چې دغه وخت د انګلستان ټولو خلکو لپاره مشترکه ژبه موجوده نه وه او په انګلستان کې فرانسوي ژبه داسې ژبه وه چې د واکمنې ټولنې له ژبې سره یې توپیر درلود او یوازې د انګلستان د اشرافیت په ترلي چاپیریال کې کاریده؟ څرنګه یو څوک کولای شي په داسې حکایتي «استدلالونو» د ټولو خلکو لپاره د مشترکې ژبې اړتیا او شتون رد کړي؟

یو وخت په روسیه کې چې اشرافیت واکمن و، د تزار دربار او د ټولنې واکمن خلك فرانسوي ژبې ته لیواله شوي وو. دغه خلکو ویاړ ګڼو چې په روسي ژبې د خبرو پر مهال، فرانسوي ګډه او یا هم روسي ژبه په زیږه فرانسوي لهجه تلفظ کړي. آیا دا په دې مانا ده چې دغه مهال په روسیه کې، ټولو وګړو ته د پوهیدنې وړ روسي ژبه، موجوده نه وه؟ آیا د ټولو خلکو لپاره عامه ژبه، یوازې یو خیال او «طبقاتي ژبه» یو حقیقت و؟

زموږ ملګري دلته لږ تر لږه دوه تیروتنې کوي:

لومړۍ تیروتنه دا ده چې دوې ژبه له مخبنا سره مغشوشوي. دوې فکر کوي چې له هغه ځایه چې مخبنا طبقاتي ځانګړتیا لري، نو ژبه هم د دې په ځای چې د ټولو وګړو لپاره عامه ژبه وي، باید یوه طبقاتي ژبه وي. ما مخکې وویل

چې ژبه او مخبنا دوه جلا مفهمونه دي او يو مارکسيست نبايد دا دواړه سره مغشوش کړي.

د دې ملګرو دويمه تيروتنه دا ده چې د بورژوازي او پرولتاريا تر منځ د ګټو اختلاف او د دوې تر منځ شديده طبقاتي تضاد؛ د ټولنې د غير متجانس کيدو په مانا ګڼي، چې په کې د متضادو طبقاتو تر منځ هر ډول اړيکي شليږي. دوې باور لري له هغه ځايه چې واحده ټولنه نوره موجوده نه ده او ټولنه په طبقاتو ويشل شوی، نو د ټولنې واحدې ژبې، ملي ژبې ته اړتيا نشته دی. دوې وايي که چيرې واحده اجتماع نلرو او د ټولو وګړو لپاره عامه ژبه نلرو، ملي ژبه نلرو، نو څه پاتې کيږي؟ هغه څه چې پاتې کيږي طبقات او «طبقاتي ژبه» ده.

طبيعي خبره ده چې هره «طبقاتي ژبه» بايد خپل «طبقاتي» ګرامر ـ «پرولتاريايي» ګرامر يا «بورژوايي» ګرامر ـ ولري. سمه ده، خو داسې ګرامر چيرې شتون نلري. دا نه شتون زموږ ملګري نه انديښمن کوي، ځکه هغوې باور لري چې دا ډول ګرامرونه به د وخت په تيريدو سره راڅرګند شي.

يو مهال زموږ په هيواد کې داسې «مارکسيستان» هم ول چې ټينګار يې کاوه چې د اکتوبر انقلاب وروسته د ريل کومې پټلۍ چې پاتې دي هغه بورژوايي پټلۍ دي او موږ مارکسيستانو ته نه ښايي چې دا پټلۍ وکاروو او بايد ړنګې يې کړو او پر ځای يې «پرولتاريايي» پټلۍ جوړې کړو. د همدې لپاره دې ډول کسانو ته د «غارميشتو» نوم ورکړل شو!

ښکاره ده چې د ټولنې، طبقاتو او ژبې په اړه دا ډول وروسته پاتی ـ انارشيستي نظر له مارکسيزم سره هيڅ ډول تړاو نلري. خو بې له شکه چې دا ډول نظر لا زموږ د ځينو سرګردانو ملګرو په ذهنونو کې ځای لري.

دا سمه نه ده چې وويل شي چې د شديدې طبقاتي مبارزې د شتون له امله، ټولنه په داسې طبقاتو ويشل شوې چې دا طبقات په يوې واحدې ټولنه کې له يو بل سره هيڅ ډول اقتصادي اړيکې نلري. د دې خلاف، تر هغه چې پانګوالي ادامه لري، بورژوازي او پرولتاريا به د پانګوالۍ نظام د اجزاو په توګه له يو بل سره په ټولو اقتصادي فعاليتونو کې اړيکه ولري. بورژوازي نشي کولای خپل ژوند ته ادامه ورکړي او شتمنه شي، مګر دا چې مزدي کارګران تر خپل واک لاندې ولري؛ پرولتاريا هم نشي کولای ژوند وکړي مګر دا چې خپل کاري ځواک په پانګوالو وپلوري. که د طبقاتو تر منځ ټولې اقتصادي اړيکي ودريږي، دا به د ټول توليد د ودريدنې په مانا وي او د ټول توليد ودريدنه به د ټولنې د نابوديدنې په مانا، د ټولو طبقاتو د نابوديدنې په مانا وي. طبيعتاً، هيڅ طبقه په خپل لاس د خپلې نابودۍ غوښتونکې نه ده. پايله دا ده چې طبقاتي مبارزه که هر څومره تيزه او سخته هم وي، دا مبارزه د ټولنې په نابوديدنې نه لامل کيږي. يوازې د مارکسيزم په اړه ناپوهي او د ژبې د ځانګړتيا په اړه نه پوهيدنه، زموږ ځينې ملګري د ټولنې د نابودۍ او د «طبقاتي» ژبې او «طبقاتي» ګرامر په اړه افسانه ويلو ته اړ باسي.

د استناد ډګر پراخيږي. له لنين څخه هم ماخذ راوړل کيږي چې د پانګوالۍ په واکمنۍ کې يې پر دوو کلتورونو ـ بورژوايي او پرولتاريايي کلتور ـ باور درلود. هغه د پانګوالۍ په واکمنۍ کې د ملي کلتور شعار يو ناسيوناليستي شعار ګڼو. دا سمه ده او لنين هم يقيناً چې سم ويل. خو دا خبره د ژبې له «طبقاتي ځانګړتيا» سره څه تړاو لري؟ کله چې دا ملګري هغه څه ته چې لنين د پانګوالۍ په واکمنۍ کې له دوو جلاوو فرهنګونو يادونه کوي، مراجعه کوي نو غواړي په ښکاره ډول لوستونکو ته دا اند اثبات کړي چې په ټولنه کې د دوو بورژوايي او پرولتاريايي فرهنګونو شتون، په دې مانا دی چې په

دغه ټولنه کې باید دوه طبقاتي ژبې هم شتون ولري او له هغه ځایه چې ژبه له فرهنګ سره تړاو لري، نو دا ملګري دې پایلې ته رسیږي چې لنین د یوې ملي واحدې ژبې اړتیا رد کړی او پر «طبقاتي» ژبو یې باور درلود.

هغه تیروتنه چې ملګري یې دلته کوي، دا ده چې دوې ژبه له فرهنګ سره ګډوي او مغشوشوي. حال دا چې فرهنګ او ژبه دوه بیلابیل شیان دي. فرهنګ کولای شي بورژوازي یا سوسیالیستي وي خو ژبه د اړیکو د وسیلې په توګه تل د ټولو خلکو لپاره مشترکه ده او کولای شي بورژوازي او سوسیالیستي فرهنګونو ته خدمت وکړي. آیا دا یو حقیقت نه دی چې روسي، اوکرائیني او ازبکي ژبې چې نن د دې ملتونو سوسیالیستي فرهنګ په چوپړ کې دي، د اکتبر انقلاب دمخه د همدې ملتونو د بورژوایي فرهنګ په چوپړ کې وې؟ نتیجه دا ده چې دا ملګري په ښکاره توګه تیروتنه کوي کله چې دې پایلې ته رسیږي چې د دوو فرهنګونو شتون د دوو بیلابیلو «طبقاتي» ژبو د زیږیدنې سبب کیږي چې د یوې واحې ژبې اړتیا له منځه وړي.

کله چې لنین د دوو فرهنګونو په اړه غږیږي، په سمه دا موضوع څرګندوي چې د دوو فرهنګونو شتون د یوې واحدې ژبې د نفي او د دوو «طبقاتي» ژبو په مانا نه، بلکې یوه واحده ژبه باید شتون ولري. کله چې بوندیستانو[6] پر

[6] بوند ـ د لیتوانیا، پولنډ او روسي یهودو کارګرانو عمومي اتحادیه وه چې د یهودو د کوچنۍ بورژوازي یو اپورتونیست سازمان و. د دې سازمان بنسټ د ۱۸۹۷ په اکتوبر کې په ویلنا کنګره کې کیښودل شو. دې سازمان په ټولیزه توګه د لاسي صنایعو په برخه کې د بوختو یهودانو تر منځ کار کاوه. د روسې د کارګرانو د سوسیال ـ دموکرات ګوند په لومړۍ کنګره کې، چې په ۱۸۹۸ کال کې جوړه شوه، بوند له دې ګوند سره د «یو خپلواک او مستقل سازمان په توګه چې یوازې د یهودي پرولتاریا ځانګړو مسئلو ته یې پام درلود» یوځای شو. کله چې له ګوند سره یوځای شو نو د روسي کارګرې طبقې په غورځنګ کې یې نیشنلیزم او

لنین تور ولګو چې څرنګه چې فرهنګ « غیر ـ ملي » ګڼي، د ملي ژبې د اړتیا منکر هم دی؛ نو، لنین، څرنګه چې پوهیږو، په قاطعانه ډول اعتراض وکړ او څرګنده یې کړه چې هغه د بورژوازي فرهنګ په وړاندې جنګیږي، نه د ملي ژبو په وړاندې، څه چې هغه یې اړتیا د مناقشې او مباحثې وړ نه ویني. د حیرانتیا ځای ده چې زموږ یو شمیر دوستان د بوندیستانو په پل روان دي.

ځینې ملګري چې فکر کوي چې لنین د واحدې ژبې د اړتیا منکر و، ښه به دا وي چې د هغه دا خبره یې غوږونو ته ورسوو:

«ژبه د انسان د اړیکو لپاره ډیره مهمه وسیله ده. د ژبې یووالی او بی ځنډه پرمختیا، د معاصر پانګوال نظام سره د متناسبه، آزاده او پراخه سوداګریزو مبادلاتو یو مهم شرط دی. د ژبې یووالی، په بیلابیلو طبقاتو کې د خلکو د آزادو او پراخو ډلو د نژدې کیدو یو مهم شرط دی.»[7]

دا ښکاره کوي چې زموږ ښاغلیو ملګرو د لنین نظریات په ناسم ډول وړاندې کړي دي.

بالاخره، د ستالین خبره رانقلوي. له ستالین څخه دا عبارت نقلوي چې وایي«بورژوازي او د هغه ناسیونالیست ګوندونه په دې پېر کې د دې ملتونو

---

تجزیه پالنې ته لمن ووهله. د بوندیستانو بورژوا ـ نیشنلیستي دریځ د ایسکرا لخوا په پریکنده ډول رد شو.

[7] ولادیمیر ایلیچ لنین، «د ملتونو د برخلیك د ټاکلو حق»، غوره آثار په دوو ټوکو کې، انګلیسي نسخه، مسکو، ۱۹۵۲، لومړی ټوک، دویمه برخه، مخونه ۱۹–۳۱۸

ستر لاربنود ځواکونه وو او لا هم دي.»[8] دا خبره سمه ده. هماغه ډول چې پرولتاريا او انترناسيوناليستي ګوند يې د پرولتري فرهنګ رهبري کوي، همدغه ډول بورژوازي او ناسيوناليست ګوند يې واقعاً هم د بورژوايي فرهنګ رهبري کوي. خو دا د ژبې له «طبقاتي ځانګړتيا» سره څه تړاو لري؟ آيا دا ملګري په دې نه پوهيږي چې ملي ژبه د ملي فرهنګ يوه بڼه ده چې کولای شي هم بورژوازي او هم پرولتاريايي فرهنګونو ته خدمت وکړي؟ آيا زموږ ملګري د دې مهم مارکسيستي فورمول په اړه خبر نه دي چې اوسني روسي، اکرائيني، بلاروسي او نور فرهنګونه د منځپانګې له پلوه سوسياليستي او د بڼې له پلوه ملي دي، د ساري په توګه ژبه؟ آيا دوې دا مارکسيستي فورمول قبلوي؟

زموږ د ملګرو تيروتنه په دې کې ده چې دوې د فرهنګ او ژبې په منځ کې توپير نهويني او په دې نه پوهيږي چې د ټولنې د پرمختيا په هر پېر کې فرهنګ د منځپانګې له پلوه بدلون مومي، حال دا چې ژبه د څو پېرونو په بهير کې اساساً يو ډول پاتې کيږي او دواړو نوي او زاړه فرهنګونو ته يو شان خدمت کوي.

نو ويلی شوو:

الف ـ ژبه، هغه ژبه چې د ټولنې د ټولو خلکو لپاره مشترکه ده، د خلکو د اړيکو د وسيلي په توګه تل د ټولنې واحده ژبه وه او په راتلونکي کې به هم وي؛

---

[8] جوزوف ستالين، «ملي مسئلې او لنينيزم»، آثار، انګليسي نسخه، مسکو، ۱۹۵۴، يولسم ټوک، مخ ۳۵۳.

ب ـ د ګړدودونو او ځانګړو صنفي اصطلاحاتو شتون، نه یوازې د ټولو خلکو لپاره مشترکه ژبه نه نفي کوي بلکې د ملي ژبې د تایید تر څنګ په خپله هم د مشترکې ژبې د یوې ځانګې په توګه له ملي ژبې پیروي کوي؛

ج ـ د ژبې په اړه د «طبقاتي ځانګړتیا» فورمول کارونه؛ تیروتنه او په ورته وخت کې غیر مارکسیستي فورمول دی.

**پوښتنه:** ژبه څه خصلتونه او کومې ځانګړتیاوې لري؟

**ځواب:** ژبه هغه ټولنیزه ښکارنده ده چې د ټولنې په بهیر کې خپل رول تر سره کوي. ژبه د ټولنې له ژوندانه او پرمختیا سره ژوند او پرمختیا مومي او هغه وخت مري چې ټولنه مړه شي. له ټولنې پرته ژبه شتون نلري. ژبه او د هغه د پرمختیا قوانین یوازې هغه وخت د پوهیدنې وړ دي چې د ټولنې له تاریخ او د هغو خلکو له تاریخ سره په نه بیلیدونکي توګه مطالعه شي، چې د مطالعې لاندې ژبه هغوې پورې تړاو ولري او پیداکوونکي او زیرمه جوړونکي یې وي.

ژبه یوه وسیله ده، هغه افزار دی چې په مرسته یې خلك له یو بل سره خبرې اترې کوي، اندونه سره بدلوي رابدلوي او یو بل پیژني. له هغه ځایه چې ژبه له فکر سره مستقیم تړاو لري؛ نو فکر په کلیمو کې ثبت او سمبالوي او بیا د کلیمو د ترکیبولو له لارې هغه په جملو بدلوي. ویلی شوو چې ژبه د فکر کولو او د انسان د فکري فعالیتونو د بریاوو د بهیر پایله ده او په انساني ټولنه کې د اندونو مبادله شوني کوي.

د اندونو مبادله یوه دایمي او حیاتي اړتیا ده. بی له هغه ناشوني ده چې د طبیعي ځواکونو په وړاندې د مبارزې او د اړینو مادي ارزښتونو د تولید لپاره د

مبارزې په موخه د خلکو ګډې هڅې همغږي کړوو. بې له ژبې د ټولنې د مولده فعالیتونو له بریا ډاډمنتیا ناشوني ده. نو ویلي شوو چې بې له ژبې د ټولنیز تولید بقا ناشوني ده. سربیره پر دې، په یوه ټولنه کې له هغې ژبې پرته چې د ټولې ټولنې لپاره د پوهیدنې وړ او د دغه ټولنې د ټولو غړو لپاره عامه وي، تولید نابودیږي او ټولنه له مینځه ځي. له دې پلوه، ژبه د دې تر څنګ چې د اړیکو وسیله ده، په ورته وخت کې د ټولنې د مبارزې او پرمختګ وسیله هم ده.

څرنګه چې پوهیږو په یوه ژبه کې ټولې کلیمې د ژبې د لغتونو قاموس جوړوي. د یوې ژبې د لغتونو په قاموس کې څه چې مهم دي هغه د لغتونو بنسټیزه زیرمه ده، چې د کلیمو ریښه او مشتق شوی کلیمې دواړه رانغاړي. که څه هم د دې کلیمو شمیر د ژبې د لغوي قاموس په پرتله لږ او زیات کم دی، خو بیا هم د دې کلیمو عمر ډیر دی، په پیړۍ پیړۍ عمر لري او د ژبې لپاره د نویو لغتونو د جوړولو په پار بنسټ برابروي. د لغتونو قاموس د ژبې وضعیت څرګندوي: هر څومره چې د لغتونو قاموس بډایه او متنوع وي، په هماغه کچه ژبه هم بډایه او پرمختللي وي.

خو سره د دې د لغتونو زیرمه په خپل ذات کې ژبه نه جوړوي، بلکې دا زیرمه تر ډیره د ژبې د ودانیزو موادو بڼه لري. څرنګه چې په ودانیزو چارو کې ودانیز مواد د ودانۍ د جوړیدو په مانا نه ده، که څه هم یوه ودانۍ بې له ودانیزو موادو جوړیدای نشي. همدا ډول، سره د دې چې د لغتونو زیرمه په یوازې توګه ژبه نه ده، خو بې له دې د ژبې تصور کیدای هم نشي. د یوې ژبې لغوي زیرمه هغه وخت خورا اهمیت مومي چې په ګرامري اډانه کې ځای په ځای شي. ګرامر، د کلیمو ادلون بدلون او په جملو کې د کلیمو

ترکیبول تنظیم او سمبالوي او ژبې ته یوه منسجمه او مهمه دنده ورپه برخه کوي.

ګرامر(صرف، نحو) د هغو قواعدو ټولګه ده چې د کلیمو ادلون بدلون او په جملو کې د هغوې ترکیبول، سمبالوي. همدا دی چې باید د ګرامر منندوی ووسو چې د ژبې لپاره یې دا شونتیا برابره کړی چې د انسان د اندونو لپاره مادي ژبنی پوښښ برابر کړي او افکار یې ولیږدوي.

د ګرامر مهمه ځانګړنه دا ده چې د کلیمو بدلون او سمون لپاره قواعد وضع کوي، البته نه د ځانګړو کلیمو لپاره، بلکې په ټولیزه توګه د ټولو کلیمو لپاره قواعد جوړوي؛ دا قواعد خاصې کلیمې په پام کې نلري. همدا ډول د جملې جوړیدو لپاره هم قواعد وضع کوي، البته نه د ځانګړو مشخصو جملو لپاره؛ ښه ده چې ووایو ګرامر یوازې کوم خاص فاعل، یا کوم خاص مسند او نورو ته قواعد نه وضع کوي، بلکې په ټولیزه توګه ټولو جملو ته قواعد جوړوي، بی له دې چې د هغه ځانګړې ښه په پام کې ولري. نو، ګرامر سره د دې چې له ځانګړو او خاصو کلیمو او جملو سره سروکار نلري، خو څه چې په مشترکه او اساسي ډول تر سره کوي هغه د کلیمو بدلون او سمون او په جملو کې د دې کلیمو ترکیبول او د ګرامري قواعدو او قوانینو پر بنسټ د دې جملو جوړول دي. ګرامر، د انساني مغز د تجریدي کړنو د پروسې اوږدمهاله حاصل دی. ګرامر، د فکر تر ټولو حیرانونکی لاس ته راوړنه ګڼل کیږي.

ګرامر د همدې پورتنې مسئلې له امله، هندسه په ذهن کې تداعي کوي. هندسه هم خپل قواعد د ځانګړو اشیاؤ له تجرید څخه تر لاسه کوي. خپل قواعد له ځانګړو مشخصو اجسامو څخه نه اخلي او د اجسامو تر منځ اړیکه هم د ځانګړو مشخصو اجسامو د اړیکې له مخې نه تعریفوي. هندسه، بی له

دې چې د اجسامو ځانګړې مشخصات په پام کې ونيسي، د اجسامو اړيکه په عمومي ډول په پام کې نيسي.

د مخبنا په خلاف؛ ژبه له توليد سره سيده اړيکه نلري، کومه اړيکه چې له توليد سره لري هغه د اقتصاد له لارې ده. ژبه، په مستقيمه توګه د انسان له توليدي فعاليتونو سره اړيکه لري، همدا ډول پرته له استثنا د انسان د نورو کاري برخو له فعاليتونو سره هم مستقيمه اړيکه لري. همدا دی چې د ژبې قاموس د بدلون په وړاندې حساس او د مداوم بدلون سره مخ دی. د مخبنا په خلاف، ژبه د بدلون لپاره د بيخبنا نابودۍ ته منتظره نه پاتې کيږي. د ژبې د لغتونو قاموس، مخکې له دې چې بيخبنا نابوده شي، بدلون مومي او د بيخبنا له وضعيت سره کوم تړاو نلري.

په هر حال، د ژبې په لغتونو کې بدلون، د مخبنا د بدلون په شان، چې زاړه تري تم او نوي ځه جوړ شي، نه دی؛ بلکې د نويو کليمو د زياتيدنې له لارې د شته قاموس بډاينه ده، هغه نوي کليمې چې د ټولنيز سيستم له بدلون سره، د توليد، فرهنګ، ساينس او نورو برخو له پرمختيا سره رامينځته کيږي. د دې سربيره، که څه هم يو شمير له دوده وليدلی لغتونه، عموماً د ژبې له قاموس څخه وځي، خو په ورته وخت کې يو شمير زيات نوي لغتونه په ژبه کې ورزياتيږي. د ژبې د لغتونو اساسي زيرمه، په بنسټيزه توګه خوندي پاتې کيږي او د يوې ژبې د لغتونو لپاره د بنسټ په توګه کارول کيږي.

کاملاً روښانه ده چې د لغتونو د اساسي زيرمو ويجاړونې ته، چې د څو تاريخي پېړونو په اوږدو کې په اغيزناکه توګه کارول شوی دي، اړتيا نشته دی. دا هم ښکاره خبره ده چې په لنډ مهال کې د لغتونو نوې بنسټيزې زيرمې جوړول ناشونی کار دی. د لغتونو اساسي زيرمه، چې د څو پيړيو په بهير کې

رامینځته شوی، نابودول به ژبه معلوله کړي او د خلکو تر منځ به راکړه ورکړه په بشپړ توګه ټکنی کړي.

د یوې ژبې ګرامري سیستم، ان د یوې ژبې د لغتونو د اساسي زیرمې د بدلون څخه ډیر پڅ وي. د ژبې ګرامري سیستم، چې په پېړونو کې جوړ شوی او د یوې ژبې هډ او وینه جوړوي، د ژبې د اساسي لغوي زیرمې په پرتله ډیر پڅ بدلون مومي. د وخت په تیریدو سره، ښکاره ده چې د ژبې ګرامر هم بدلون مومي، لا بشپړیږي، خپل قواعد پیاوړي کوي، لا یې مشخصوي او نوي قواعد تر لاسه کوي. خو له دې ټولو سره سره، د ګرامري سیستم بنسټونه د ډیرې مودې لپاره خوندي پاتې کیږي. څرنګه چې تاریخ ښکاره کوي دا سیستم د څو پېړونو لپاره په اغیزناکه توګه د ټولنې لپاره خدمت کوي. نو ویلی شوو چې ګرامري سیستم او اساسي لغوي زیرمه د یوې ژبې بنسټ جوړوي او د ژبې ځانګړی کیفي جوهر څرګندوي.

تاریخ څرګندوي، کله چې څوک وغواړي چې ژبه په زوره له منځه ویسي، له ځانه ډیر مقاومت او پایښت ښکاره کوي. ځینې تاریخپوهان د دې قضیې د شننې پر ځای، یوازې د حیرانتیا په څرګندونې بسنه کوي. خو د هیڅ ډول حیرانتیا اړتیا نشته. د ژبې د پایدارۍ دلیل، د هغه ګرامري جوړښت او د کلیمو د اساسي زیرمو پایداري ده. تُرکي منحل کوونکو او د ژبې هممورته کوونکو سلګونه کلونه هڅه وکړه چې د بالکانیانو ژبې وځپي، سپکې یې کړي او نابودې یې کړي. په دې موده کې د بالکانیانو ژبو خورا زښت بدلون وموند، یو شمیر زیات ترکي لغتونه او اصطلاحګانې د بالکانیانو په ژبو کې دننه شول، «یوځایتوبونه» او «جلاتوبونه» تر سره شول؛ خو له دې سره سره بالکاني ژبې پاتې او مقاومت یې وکړ. ولې؟ ځکه چې د دې ژبو ګرامري جوړښت او د کلیمو اساسي زیرمې، له بنسټه خوندي پاتې شوی.

له دې ټولو دا څرګندېږي چې ژبه او د هغه جوړښت د يو عصر محصول ګڼلی نشوو. د ژبې جوړښت، ګرامري جوړښت او د هغه د کليمو اساسي زيرمه د څو عصرونو محصول دی.

کېدای شي داسې وانګېرو چې د معاصرې ژبې، لومړنی او مقدماتي بنسټ د مرييتوب له پېر دمخه په لرغوني او ډېر پخواني پېر کې ايښودل شوی دی. دا ژبه هغه مهال له پيچلتيا تشه وه او د کليمو قاموس يې ډېر ضعيفه و، خو خپل ګرامري سيستم يې درلود، سمه ده چې دا سيستم لومړنی و، خو په هر حال يو ګرامري سيستم و.

د توليد لا پرمختګ، د طبقاتو پيدايښت، د خط او کتابت معرفي کېدل، د دولت راڅرګنديدنه چې د خپلې ادارې لپاره يې کم او زيات يوې منظمې مکاتبې ته اړتيا درلوده، د سوداګرۍ پراختيا چې لا هم زياتې منظمې مکاتبې ته اړمنه وه، د چاپ ماشين پيدايښت، د ادبياتو پرمختګ؛ دا ټول د ژبې په پرمختيا کې د سترو بدلونونو لامل شول. په دې موده کې قبيلې او مليتونه سره تجزيه شول، سره مخلوط شول، قطعه قطعه شول؛ وروسته بيا ملي ژبې او دولتونه رامينځته شول، انقلابونه تر سره شول او د زړو ټولنيزو سيستمونو ځای نويو سيستمونو ونيو. دا ټول په ژبې او د هغه په پرمختيا کې د لا زياتو بدلونونو لامل شول.

خو سره د دې، دا به لويه تيروتنه وي چې فکر وکړو چې د ژبې پرمختيا د مخبنا د پرمختيا په شان تر سره شوی ده، يعنې د هغه څه ورانول چې لرو يې او د نوي شيي د جوړولو له لارې. خو واقعيت دا دی چې د ژبې پرمختيا نه د شته ژبې د نابوديدو او نه هم د نوي ژبې د جوړولو له لارې، بلکې د شته ژبو د اصلي عنصرونو د پراختيا او بشپړتيا له لارې تر سره کيږي. د دې ترڅنګ،

له یو حالت څخه بل حالت ته د ژبې لیږد، نه د انفجار له لارې تر سره کیږي، نه هم د زړې ژبې د ناڅاپي نابودیدنې او د نوې ژبې د جوړونې له لارې، بلکې د نوي کیفیت د عنصرونو او د نوي ژبني جوړښت د اوږدمهاله او تدریجي تراکم له لارې او د زاړه کیفیت د عناصرو د تدریجي نابودیدو په وسیله تر سره کیږي.

ویل کیږي چې د ژبې د پړاویزه پرمختیا تیوري، مارکسیستي تیوري ده، ځکه چې دا تیوري له زاړه کیفیت څخه یو نوي کیفیت ته دژبې لیږد لپاره د ناڅاپي انفجار اړتیا یو شرط ګڼي. ښکاره ده چې دا سمه نه ده. په دې تیوري کې ستونزمنه ده چې داسې یو څه دې پیدا کړای شوو چې له مارکسیزم سره ورته والی ولري.

که د پرمختیا پړاویزه تیوري په رښتیا هم د ژبې د پرمختیا په تاریخ کې ناڅاپي چاودنو ته ارزښت ورکوي، د دې تیوري وضعیت د خواشینی وړ دی! مارکسیزم د ژبې په پرمختیا کې په ناڅاپی چاودنو، د موجودې ژبې ناڅاپي مرګ او د نوي ژبې پر ناڅاپي جوړیدو باور نلري. لافارګ په غلطه و کله چې په فرانسه کې «د ۱۷۸۹ او ۱۷۹۴ کلونو تر منځ د ژبې د ناڅاپي انقلاب څخه» غږیږي.(د لافارګ «د فرانسې ژبه له انقلاب مخکې او وروسته» جزوه دې ولیدل شي). د فرانسې په دغه وخت کې هیڅ ډول ژبنیز انقلاب نه دې تر سره شوی، ناڅاپي خو لا پریږدئ. دا سمه خبره ده چې په دغه پېر کې د فرانسوي ژبې د لغتونو قاموس په نویو کلیمو او اصطلاحګانو بډایه شو، یو شمیر زړې کلیمې حذف شوی او د ځینو کلیمو مفهوم بدل شو. دا ټول هغه څه وو چې تر سره شول. دا ډول بدلونونه په هیڅ ډول په دې مانا نه دي چې د ژبې برخلیك دې وټاکي. په ژبه کې مهمه موضوع د هغه ګرامري جوړښت او د کلیمو اساسي زیرمه ده. خو د فرانسوي ژبې ګرامري سیستم او د کلیمو

اساسي زيرمه نه يوازې د فرانسې بورژوازي انقلاب په پېر کې نابود نشول، بلکې له مهمې بدلونونو پرته،  خوندي پاتې شول، او نه يوازې خوندي پاتې شول، بلکې تر اوسه پورې هم د معاصرې فرانسوي ژبې برخې دي. زه مجبور يم ووايم چې د شته ژبې د تري تم کولو او د نوي ملي ژبې د رامنځته کولو د («ناڅاپي ژبني انقلاب») لپاره د پنځو او شپږو کلونو لړه موده، ډيره مسخره ښکاري، د دې کار لپاره پيړيو ته اړتيا ده.

مارکسيزم په دې باور دی چې له زوړ کيفيت څخه  نوي هغې ته د ژبې بدلون د يوه انفجار او د شته ژبې د نابودۍ او د نوې ژبې د رامينځته کيدو له لارې نه تر سره کيږي، بلکې د نوي کيفيت د عناصرو د تدريجي تراکم او د زاړه کيفيت د عناصرو د تدريجي مرګ له لارې تر سره کيږي.

په ټوليزه توګه، ښايي د هغو ملګرو د پوهيدو په پار، چې له انفجاري حالت سره ليوالتيا لري، وويل شي چې د انفجار له لارې له زاړه کيفيت څخه نوي کيفيت ته د ليږد قانون، نه يوازې چې د ژبو د پرمختيا د تاريخ په تړاو صدق نکوي، بلکې د بيخبنا يا مخبنا د نورو ټولنيزو ښکارندو د ځانګړتيا په اړه هم تل صدق نکوي. دا قانون يوازې د هغه ټولنې لپاره لازمي مصداق مومي چې په کې متخاصمې طبقې شتون ولري، خو د هغه ټولنې لپاره چې په کې متخاصمې طبقې شتون نلري، په هيڅ ډول لازمي او حتمي نه ګڼل کيږي.

له ۸ تر ۱۰ کلونو په ترڅ کې مو د هيواد د کرهنې په برخه کې له بورژوازي رژيم، له دهقاني انفرادي سيستم څخه؛ سوسياليستي، کلخوزي سيستم ته ليږد پلي کړ. دا هغه انقلاب و چې پخوانی بورژوازي اقتصادي رژيم يې په کليوالو سيمو کې له مينځه ويوړ او نوی سوسياليستي سيستم يې پر ځای جوړ شو. خو دا انقلاب د چاودنې له لارې، يعنې د شته حکومت د ړنګيدو او د نوي

حکومت د جوړیدو له لارې پلي نشو، بلکې په کلیوالو سیمو کې له پخواني بورژوازي سیستم څخه نوي سیستم ته د تدریجي لیږد له لارې تر سره شو. د دې کار د کولو شونتیا وه، ځکه چې دا انقلاب له بره پیل شو، ځکه چې دا انقلاب د شته ځواك د نوښت پر بنسټ او د دهقاني پرګنو د ملاتړ له امله بري ته ورسید.

ویل کیږي چې په تېرو تاریخي مهالونو کې د ډیر شمیر ژبو د امتزاج بیلګې د دې لامل کیږي چې باورمن شوو چې د امتزاج پر مهال، د انفجار او له زاړه کیفیت څخه نوي کیفیت ته د ناڅاپي لیږد له لارې، نوې ژبه رامینځته کیږي. دا خبره بیخي غلطه ده.

ژبنی امتزاج نشو کولای د هغه پریکندې ضربې یوه واحده اغیزه وګڼو چې د څلو کلونو په ترځ کې پایلې ته رسیږي. ژبنی امتزاج هغه اوږدمهاله بهیر دی چې سلګونه کاله دوام مومي. له همدې امله دلته د چاودنې اډو پوښتنه نه راولاړیږي.

د دې تر څنګ، دا هم بیخي ناسمه ده چې فکر وکړو چې د ساري په توګه د دوو ژبو د امتزاج پایله نوې ژبه، دریمه ژبه ده چې له ممزوجو ژبو سره هیڅ ورته والی او توپیروالی نلري. حقیقت دا دی چې له ممزوجو ژبو، یوه ژبه بریالی راوځي، خپل ګرامري سیستم او اساسي لغوي زیرمه ساتي او د خپلې پرمختیا له ذاتي قوانینو سره سم پرمختیا ته ادامه ورکوي، حال دا چې بله ژبه سوکه سوکه خپل کیفیت له لاسه ورکوي او په تدریجي توګه مري. د پایلې په توګه ویلی شوو چې د امتزاج نتیجه، نوې، دریمه ژبه نه ده؛ یوه ژبه مقاومت کوي، خپل ګرامري سیستم او اساسي لغوي زیرمه ساتي او دا توانایي لري چې د خپلې پرمختیا له ذاتي قوانینو سره سم پرمختیا ومومي.

دا سمه خبره ده چې په دې بهیر کې تر یوې کچې د بریمنې ژبی لغوي فرهنګ او قاموس د مغلوبې ژبې په کلیمو بډایه کیږي. دا کار ژبه نه یوازې نه کمزوروي، بلکې پیاوړې کوي. د مثال په توګه له روسي ژبې سره ورته چلند شوی دی. د تاریخي پرمختیا په اوږدو کې، له روسي ژبې سره د نورو ملتونو ژبې امتزاج مونده، چې روسي ژبه تل په پای کې بریالی کیده. البته، په دې بهیر کې د روسي ژبې قاموس د نورو ژبو د کلیمو په جذبولو سره لا بډایه کیده. دې کار نه یوازې دا چې روسي ژبه کمزوری نه کړه، بلکې هغه یې لا شتمنه او پیاوړی کړه.

که د روسي ژبې د ملي اصیلتیا ځانګړنه په پام کې ونیسو، نو هیڅ ډول ضرر یې نه دی کړی، ځکه دې ژبې خپل ګرامري سیستم او د اساسي لغتونو زیرمه ساتلی او د خپلې پرمختیا له ذاتي قوانینو سره سم یې پرمختیا او بشپړتیا ته ادامه ورکړی.

نو په دې کې کوم شک نشته چې د امتزاج تیوري د شوروي ژبپوهنې لپاره ډیر کم، یا هم هیڅ ارزښت نلري. که دا خبره سمه ده چې د ژبپوهنې بنسټیزه دنده د ژبې د پرمختیا د ذاتي قوانینو مطالعه ده، نو باید ومنو چې د امتزاج تیوري دا دنده تر سره کولی نشي، بشپړتیا یې خو لا پریږده! دا تیوري یا دې مسئلې ته پام نه کوي او یا هم ورباندې نه پوهیږي.

**پوښتنه:** آیا د ژبپوهنې د مسئلو په اړه د «پراودا» د آزادانه بحث پیلول سم کار و؟

**ځواب:** هو، سم کار و.

دا چې د ژبپوهنې مسئلې حل به کوم اړخ ونيسي، د بحث په پای کې به روښانه شي. خو له اوسه ويلی شوو چې بحث ډير ګټور و. بحث له ټولو دمخه دا روښانه کړه چې د ژبپوهنې په ارګانونو، څه په مرکز او څه هم په جمهوريتونو کې، داسې رژيم واکمن دی چې له پوهې او پوهاندو سره سازګارتيا نلري. د شوروي د ژبپوهنې د وضعيت په اړه کوچنی نيوکه، ان د ژبپوهنې په اصطلاح د «نوي ډکترين» په تړاو د انتقادونو ډارځپلې هڅې، د ژبپوهنې د برلاسه کړيو له لورې تر ځورونې لاندې راتلی او مخه يې نيول کيده.

د ن. ی. مار (N.Y. Marr) د ميراث په وړاندې د انتقادي چلند او د هغه د ژبپوهنې له ښوونې سره د کوچنی نه هوکړې له امله؛ د ژبپوهنې ارزښتمن کارکوونکي او څيړونکي يا له کاره ګوښه کيدل يا يې رتبه ټيټيده. ژبپوهان نه د وړتيا پر بنسټ، بلکې د ن. ی. مار د تيوری ګانو د بی قيده او شرط منلو له وجې، په لوړو دندو ګمارل کيدل.

موږ ټول باورمن يوو چې علم د اندونو له مبارزې پرته، د نيوکې له آزادی پرته پرمختګ او وده نشي کولای. خو دا منل شوی قاعده په بشپړه بی غوری له پام غورځيده او سپکاوی يې کيده. يوه ډله رهبران راڅرګند شوي وو چې ځانونه يې جايز الخطا نه ګڼل او د خپلسري قانون له امله يې خپل ځانونه د هر ډول احتمالي نيوکې په وړاندې خوندي کړي وو. څه چې د دې ډلې خوښيدل هماغه يې کول.

دلته به يې يوه بيلګه راوړم: په اصطلاح «د باکو درسونه» (په باکو کې د ن. ی. مار ويناوې) چې په خپله ليکوال رد کړي او د بيا خپرولو ممانعت يې کړی، د دې برلاسې کړی په دستور (چې ملګري مشچانينوف هغوې د ن. ی.

مار «مریدان» ګڼي ) بیا خپاره او له هیڅ ډول بیا کتنې پرته د زده کړیالانو په ښوونیزو کتابونو کې درج شول. د دې مانا دا ده چې زده کړیالان یې دوکه کړي دي، رد شوي «درسونه» یې دوې ته د سمو درسونو په ځای تیر کړي دي. که ما د ملګري مشچانینوف او نورو مخورو ژبپوهانو په رښتینوالي باور نه درلودی، نو دا کړنه مې یوه قصدي ویجاړونکي کړنه ګڼله.

ولې دا کار تر سره شو؟ د دې لپاره تر سره شو چې هغه «آراکچیفي»[۹] رژیم چې د ژبپوهنې په برخه کې رامنځته شو، نامسؤلانه چلند یې دود او دا ډول مستبدانه کړنې یې وهڅولی. دې بحث له ټولو دمخه دا آراکچیفی رژیم بربنډ او دړې وړې کړ. د دې بحث ګټورتیا په همدې پای ته نه رسیږي. دې بحث نه یوازې د ژبپوهنې په برخه کې پخوانی رژیم ړنګ کړ، بلکې د ساینس په دې څانګه کې، د ژبپوهنې د بنسټیزو پوښتنو په تړاو یې د دې برلاسې کړی د اندونو نه باورونکي مغشوشتیا هم راڅرګنده کړه. د بحث له پیلیدو دمخه، د ن. ی. مار «مریدان» چپه خوله وو او د ژبپوهنې د ناسمه وضعیت په اړه یې

[۹]آراکچیفي رژیم: د آراکچیف زورواکانه او پولیسي بی بندو باره دیکتاتوري، چې د ۱۹ مې پیړۍ په لومړۍ څلورمه کې په روسیه کې د زوراکۍ او ظلم او بلوس ډک واک چلوه.

آراکچیف د لومړي الکساندر پر مهال د جګړې وزیر او بیا وروسته د دولتي شورا د پوځي چارو د کمیټې رئیس شو. هغه لومړی الکساندر ته نژدی و. آراکچیف د دهقاني پاڅونونو ځپوونکی و او د سپیځلي اتحاد پر مهال د روسي ارتجاع او د خپلسره پولیسي حکومت سمبول ګڼل کیده.

ستالین دا اصطلاح دلته د شوروي د ژبپوهنې په کړیو کې د ن. ی. مار بی ساری واکمنتیا او د هغه د «مریدانو» د خپلسرۍ په پار کاروي. ژ

څه نه ویل. خو کله چې بحث پیل شو، نو چوپتیا ناشوني وه، مجبور شول چې خپل نظریات په مطبوعاتو کې څرګند کړي. خو څه مو وموندل؟ دا مو وموندل چې د ن. ی. مار په تعلیماتو کې یو لړ نیمګړتیاوې، تیروتنې، د ناسمه تعریفونوستونزې او نیمګړي وړاندیزونه شته. پوښتنه راولاړیږي چې ولې د ن. ی. مار «مریدانو» په دې اړه یوازې اوس، چې بحث پیل شوی، په خبرو پیل وکړ؟ ولې یې دا کار مخکې نه کاوه؟ ولې یې په خپل وخت کې په ښکاره او صادقانه ډول، څنګه چې د پوهانو وړ ګڼل کیږي، په دې اړه خبرې نه کولې؟

د ن.ی. مار «مریدانو» د هغه پر «ځینو» تیروتنو له اقرار وروسته، داسې فکر کوي چې د شوروي ژبپوهنه یوازې د ن. ی. مار د تیوري د «اصلاح شوي» نسخې پر بنسټ کولای شي پرمختیا ومومي، هغه تیوري چې د هغوې په اند یوه مارکسیستي تیوري ده. موږ د ن.ی. مار له داسې «مارکسیزم» تیر یوو! ن.ی. مار واقعاً هم غوښتل او په رښتیا یې هم هڅه کوله چې مارکسیست ووسي، خو و نه توانید. هغه یوازې د «پرولیتکویسلتانو»[10] یا «رپیستانو»[11] په څیر، مارکسیزم شړل او مبتذلوي.

[10] د «پرولتارسکایاکونتورا» مخفف (پرولتاریایي فرهنګ)

[11] د «راسیسکایا آسوسیاسیا پرولتار سیکخ پیساتلیه» مخفف. (د روسیې د لیکوالو پرولتاریایي اتحادیه). دواړه هغه بنسټونه وو چې د پرولتاریي خالص مکتب تر نوم لاندې د ادبیاتو او هنر په برخه کې غلط او ناسم مفاهیم رامنځته کول. د اندونو یوه ځانګړنه دا وه چې هغوې تیر شتمن میراث ته پاملرنه نه درلوده. لومړنی تر دیرشم کال او دویم د شوروي د لیکوالانو د ټولنې تر جوړیدو (۱۹۳۴)پورې موجود و.

ن.ی. مار، په ژبپوهنه کې هغه ناسم او غیر مارکسیستي فورمول دننه کړ چې له مخه یې ژبه مخبنا ګڼل کیږي، په دې سره یې هم ځان سرسام کړ او هم یې ژبپوهنه ګډوډه کړه. د شوروي ژبې، د غلط فورمول پر بنسټ پرمختیا نه مومي. همدا ډول ن. ی.مار په ژبپوهنه کې یو بل ناسم او غیر مارکسیستي فورمول دننه کړ چې هغه د ژبې «طبقاتي ځانګړتیا» ده، چې له دې سره یې ځان سرسامه او ژبپوهنه یې هم ګډوډه کړه. د شوروي ژبپوهنه د داسې ناسمه فورمول پر بنسټ، چې د خلکو او ژبو له ټول تاریخي بهیر سره په مخالفت کې واقع کیږي، پرمختیا نشي کولای.

ن.ی. مار ژبپوهنې ته داسې ګستاخانه، ډوزمارانه او متکبرانه ګړ وروپیژند چې له مارکسیزم سره پردی دی. دا ګړ د ټولو هغو شیانو د بی بنسټه او بی پایه ردیدو لامل کیږي چې له ن.ی. مار وړاندی په ژبپوهنه کې تر سره شوي دي.

ن.ی. مار پر مقایسوي ـ تاریخي میتود باندې د «ایده الیستي» میتود په توګه په کلکه د بطلان کرښه کاږي. حال دا چې باید وویل شي چې مقایسوي ـ تاریخي میتود له ځینو مهمو نیمګړتیاوو سره سره، بیا هم د ن.ی. مار له څلور عنصریزه[12] واقعاً ایده الیستي شننې څخه ډیر ښه دی، ځکه چې لومړنی میتود د کار کولو د هڅونې او د ژبو د مطالعې زمینه برابروي، حال دا چې دویم میتود یوازې انسان هڅوي چې پر بازوداره څوکۍ څملي او د څلورو مشهورو عنصرونو د قهوې په پیاله کې فال ونیسي.

---

[12]څلور ـ عنصریزه شننه: ن. ی. مار ادعا کوله چې د انسان د لومړنۍ ژبې تلفظ له څلورو سیلابونو پرمختیا موندلی: sal، ber، yon او rosh.

ن.ی. مار، د «اصلي ژبې»[۱۳] د تیوري د تظاهر تر نامه لاندې، د شته ژبو د ډلو (کورنیو) د مطالعې لپاره هر ډول کوښښ په مغرورانه ډول ردوي. خو د ملتونو د ژبو تر منځ د خپښۍ انکار ناشونی دی، د ساري په توګه د اسلاو ملتونو د ژبی خپښي خو اډو پوښتنه نه راولاړوي، د دې ملتونو د ژبنیزې خپښۍ مطالعه به د ژبې د پرمختیا د قانون د مطالعې لپاره په ژبپوهنې کې لوي ارزښت ورسیوا کړي. ښایي ووایم چې د «اصلي ژبې» تیوري، اډو له دې موضوع سره کوم تړاو نلري.

که چیرې ن.ی. مار او په ځانګړي توګه د هغه «مریدانو» ته غوږ ونیول شي، ښایي داسې ګمان وشي چې له ن.ی. مار دمخه ژبپوهنې شتون نه درلود او ژبپوهنه د هغه له «نوي ډکترین» سره راڅرګنده شوی ده. مارکس او انګلس زښت متواضع انسانان وو: هغوې ویل چې دیالکتیک ماتریالیزم یې د علم او د تیرو پیړونو په ګډون د فلسفې د پرمختګ محصول دی.

---

[۱۳] د «اصلي ژبې» تئوري:د هند - اروپايي مکتب ډکترین باور لري چې ژبنیز خپل په ځان کې د هغو سیمه ایزه ګړدودونو (لهجې) یوه ډله رانغښتی چې د عامې لرغوني «اصلي ژبې» جلا شوی ده. د ساري په توګه، عصري ایټالیوي، فرانسوي، اسپانیوي، پرتګالي او رومانيايي ژبې، هغه خویندې ژبې دي چې له لاتین څخه مشتق شوي دي، خو په اصل کې دا ژبې یوازې بیلابیل ګړدودونه دي. سره له دې چې، هیڅ ډول مستند شواهد نشته چې د اکثرو ګړدودونو یا ژبو د «اصلي ژبې» شتون وښایي، خو د هند- اروپايي عالمانو د «اصلي ژبې» فرضیه راخیستی چې عمده موخه یې د فونتیک (اصواتو) د بدلیدو د قاعدې د تشریح آسانتیا ده، خو هیڅ داسې لاره چاره نشته چې د دې فرضیې د حقیقت کچه دې معلومه شي.

نو دې پایلې ته رسیږو چې دا بحث د دې لپاره هم ګټور و چې د شوروي په ژبپوهنې کې ایډئولوژیکې نیمګړتیاوې یې رابرسیره کړی.

زما په فکر، که زموږ ژبپوهنه هر څومره ژر ځان د ن.ی. مار له تیروتنو خلاص کړي، هغومره ژر به دا شونتیا ومومي چې له اوسني کړکیچ څخه ځان وژغوري.

زما په اند، په ژبپوهنه کې د آراکچیفي رژیم نابودول، د ن.ی .مار د تیروتنو ردول او په ژبپوهنه کې د مارکسیزم دودول، هغه لاره ده چې د شوروي ژبپوهنه بډاینې ته رسوي.

**پراودا، ۲۰ جون، ۱۹۵۰**

# د ژبپوهنې د ځينو مسئلو په اړه

## ملګري اي. کراشنينيکوا ته ځواب

ملګری کراشنينيکوا،

پوښتنو ته مو دلته ځوابونه وايم:

**۱. پوښتنه:** ستاسو مقاله په قانع کوونکي توګه ښيي چې ژبه نه بيخبنا ده او نه مخبنا. آيا دا به سمه وي چې ژبه داسې يو ښکارنده (پديده) وګڼو چې هم د بيخبنا او هم د مخبنا ځانګړتياوې لري، يا به لا سمه دا وي چې ژبه د دواړو تر منځ د يوې منځګړي ښکارندې په توګه وشميرل شي؟

**ځواب:** ښکاره خبره ده چې ژبه د يوې ټولنيزې ښکارندې په توګه هغه عمومي کيفيت لري چې د بيخبنا او مخبنا په ګډون د ټولو ټولنيزو ښکارندو لپاره ذاتي کيفيت ګڼل کيږي. هغه دا دی چې ژبه هم د ټولنې په چوپړ کې ده، څرنګه چې د بيخبنا او مخبنا په ګډون، نورې ټولنيزې ښکارندې هم د ټولنې په چوپړ کې دي. خو که چيرې سم ځير شوو، ګورو چې د ټولنيزو ښکارندو دا ګډ کيفيت همدلته پای ته رسيږي. له دې ګډ کيفيت پرته، د ټولنيزو ښکارندو تر منځ خورا مهم توپيرونه پيليږي.

موضوع دا ده چې ټولنيزې ښکارندې، له دې ګډې ځانګړتيا سربيره، خپل ځانګړي خصوصيتونه هم لري چې هغوې له يو بل څخه بيلوي او همدا خصوصيتونه علم ته زيات اهميت لري. له اقتصادي پلوه ټولنې ته چوپړتيا د بيخبنا ځانګړی خصوصيت دی. همدا ډول د مخبنا ځانګړي خصوصيتونه

ټولنې ته سیاسي، قانوني، ستیتیکي او فکري چوپړتیا او د دې تر څنګ د یوې ټولنې لپاره متناسبه سیاسي، قانوني او د نورو بنسټونو برابرول دي.

نو، د ژبې خاصې ځانګړتیاوې چې هغه له نورو ټولنیزو ښکارندو بیلوي، کومې دي؟ د خلکو تر منځ د اړیکو د وسیلې په توګه، په ټولنې که د اندونو د مبادلې د وسیلې په توګه، د متقابلې پوهیایۍ لپاره د وسیلې په توګه او د انساني فعالیتونو په ټولو برخو کې، که تولیدي اړیکي وي او که اقتصادي، که سیاسي برخه وي او که کلتوري، که ټولنیز ژوند وي او که خصوصي؛ د ګډ کار د سمبالنې له لارې د ټولنې چوپړتیا، د ژبې خاصې ځانګړتیاوې دي. دا ځانګړتیاوې یوازې ژبې پورې اړوندې دي او څنګه چې دا خصوصیتونه د ژبې اړوند خصوصیتونه دي، نو ژبه د یو خپلواک علم د مطالعې موضوع ده چې ژبپوهنه ورته وایي. که ژبه دا خاصې ځانګړتیاوې ونلري، نو ژبپوهنه د یو خپلواک علم حق له لاسه ورکوي.

لنډه دا چې ژبه نه د بیخناوو په ډله کې راځي او نه هم د مخبناوو په ډله کې. همدا ډول نشو کولای چې ژبه د بیخبنا او مخبنا تر منځ یوه «منځګړې» ښکارنده وګڼو، ځکه دا ډول «منځګړې» ښکارنده شتون نلري.

خو شاید وکړای شوو ژبه د ټولنې د تولیدي ځواک په ډله کې، یا په بله وینا د تولید د افزارو په ډله کې راولوو؟ واقعاً، د ژبې او تولیدي افزارو تر منځ تر یوې کچې پورې ورته والی شتون لري: تولیدي افزار د ژبې په شان د طبقاتو په وړاندې یو ډول ناتوپیروالی ښکاره کوي. کولای شوو د بیلابیلو طبقاتو، د ټولنې د زړو او نویو طبقاتو لپاره یې په یو ډول وکاروو. آیا دا مسئله موږ ته حق راکوي چې ژبه د تولیدی افزارو په کتار کې راوړو؟ نه، نه یې راکوي.

يو وخت، ن.ى. مار، وروسته له دې چې وى ليدل چې د هغه دې فورمول چې:«ژبه د بيخبنا پر بنسټ يوه مخبنا ده» مخالفتونه راوپارول، تابيا يې وکړه چې دا فورمول «بدل» کړي او وى ويل چې:«ژبه د توليد يو افزار دى». آيا مار حق درلود چې ژبه د توليدي افزارو په کتار کې راولي؟ ښکاره ده چې دا حق يې نه درلود.

موضوع دا ده چې د ژبې او توليدي افزارو تر منځ ورته والى د همدې ورته والي سره چې ما يې يادونه وکړه، پاى مومي. خو بلې خوا ته د ژبې او د توليدي افزارو تر منځ بنسټيزه توپيروالى شتون لري. دا توپيروالى په دې کې دى چې توليدي افزار مادي ثروت توليدوي، حال دا چې ژبه څه نه توليدوي، يوازينى څه چې «توليدوي» کليمې دي. د لا ساده کولو په پار بايد ووايو چې خلك د توليدي افزارو له تملك سره مادي ثروت توليدوي؛ حال دا چې هماغه خلك، که چيرې د توليدي افزارو په ځاى ژبه په تملك کې ولري، مادي ثروت نشي توليدولى. که ژبه د مادي ثروت په توليد توانيده نو يو قړتن به د نړۍ تر ټولو شتمن انسان وى؛ په دې موضوع پوهيدل څه سخت کار نه دى.

**۲. پوښتنه:** مارکس او انګلس ژبه د«فکر مستقيم واقعيت»، د« عملي... حقيقي فهم» په توګه تعريف کړى ده[١٤].مارکس وايي، «مفکوره»، «له ژبې پرته شتون لرلى نشي». ستاسو په باور، ژبپوهنه تر کومې کچې پورې ښايي د ژبي مانايي اړخ، سمانتيک (ماناپوهنې)، تاريخي سماسيولوجي او له سبک پوهنې سره ځان بوخته وساتي؛ او که ښايي موخه يې يوازې بڼه وي؟

[١٤] کارل مارکس او فردريخ انګلس، آثار، الماني نسخه، برلين، ۱۹۵۸، دريم ټوک، مخونه ۴۳۲ او ۴۳۰.

**ځواب:** ماناپوهنه (سماسیولوجی) د ژبپوهنې یوه مهمه څانګه ده. د کلیمو او اصطلاحاتو د ماناپوهنې اړخ د ژبې په مطالعې کې خورا زښت اهمیت لري. د همدې لپاره، په ژبپوهنې کې ښايي ماناپوهنه (سماسیولوجی) خپل اړین ځای ولري.

خو سره د دې، د ماناپوهنې د مسئلو د طرح کولو او د هغې د مفروضاتو د کارونې پر مهال، مهمه ده چې په اړه یې اغراق ونشي او یا هم په ناوړه توګه ترې کار وانخیستل شي. زما موخه، ځینې هغه کلیمه پېژندونکي دي چې د ماناپوهنې سره افراطي لیوالتیا لري، بې له دې چې پام وکړي چې ژبه د «فکر مستقیم واقعیت» دی او له فکر سره نه بیلدونکی تړاو لري، دا کسان ژبه له فکر جلا کوي او باورمن دي چې د ژبې عمر تیریږي او شوني ده چې بې له ژبې هم ژوند وشي.

د ن.ی. مار دې کلیمو ته پام وکړئ:

> «ژبه، یوازې له دې کبله شتون لري چې په آوازونو کې راڅرګندیږي؛ د تفکر عمل هم بې له دې چې څرګند شي، تر سره کیږي... ژبې (وینايي ژبې)، وروستیو اختراعاتو ته د خپلې دندې سپارنه پیل کړې او دا اختراعات په بشپړ ډول ډګر نیسي، حال دا چې تفکر د غوړیدو په حال کې دی. تفکر له تېر بې ګټې تراکم څخه نوي کارندتیا ته یون کوي، ژبه له ډګره باسي او ځای ورته په بشپړه توګه نیسي. تفکر، راتلونکی ژبه ده چې له طبیعي جوهر څخه په آزاده توګه پرمختیا مومي. هیڅ ژبه، ان وینايي

ژبه، چې په يو شان د طبيعت له معيارونو سره تړلی
شوي، د تفکر په وړاندې د مقاومت توانايي لرلی
نشي. (د ن.ی. مار غوره آثار دې وليدل شي).

که موږ دا د «جادوګرانه ـ کوښښ»[۱۵] اپلتې په بشري عادي ژبه وژباړو، نو دا پايله تر لاسه کوو:

الف) ن.ی. مار، تفکر له ژبې جلا کوي؛

ب) ن.ی. مار عقيده لري چې خلك کولای شي بی له ژبې، د تفکر په مرسته هم د يو بل په خبره پوه شي، هغه تفکر چې د ژبې له «طبيعې جوهر» او «طبيعي معيارونو» څخه آزاد دی؛

ج) له ژبې څخه د تفکر جلاتوب او د ژبې له «طبيعي جوهر» څخه د هغه «خلاصون» ؛ ن.ی. مار د ايډه اليزم په ډنډ کې ډوبوي.

ويل کيږي چې افکار مخکې له دې چې د خبرو په بڼه راڅرګند شي د انسان په ماغزو کې ګرځي؛ له ژبني موادو پرته رامينځته کيږي او پرته له دې چې ژبنی پوښښ ولري، ويلی شوو چې په اصطلاح په بربنډ ډول رامينځته کيږي. خو دا بالکل غلطه ده. هر کله چې افکار د انسان په مغزو کې رامينځته کيږي او هره شيبه چې رامينځته کيږي، يوازې د ژبني موادو پر بنسټ رامينځته کيږي

---

[۱۵]. ن.ی. مار باور درلود چې معمولي (وينايي) ژبه د خپل پيدايښت په لومړيو کې د جادوګرۍ وسيله او د غيب ويونکو جاودګرو په لاس کې وه. دا اصطلاح د مار له آثارو نقل شوی ده.

او موجودیت مومي. دا افکار د ژبې د اصطلاحاتو او عباراتو پر بنسټ رامینځته کیږي.

لوڅ افکار، له ژبني موادو آزاد او له «طبیعي جوهر» آزاد افکار شتون نلري. «ژبه د فکر مستقیم واقعیت دی» (*مارکس*). د فکر واقعیت په ژبه کې څرګندیږي؛ یوازې ایډه الیستان کولای شي ووایي چې فکر د ژبې له «طبیعي جوهر» سره تړاو نلري او تفکر د خپل واقعیت لپاره ژبې ته اړتیا نلري.

لنډه دا چې په سمانتیک (ماناپوهنه) کې اغراق او د هغه ناسمه کارونه، ایډه الیزم ته د ن.ی. مار د لیږد لامل شو.

نو پایلې ته رسیږو که چیرې سمانتیک (سماسیولوجي) د هغه ډول اغراق او ناسمې کارونې په وړاندې چې ن. ی. مار او د هغه ځینې «مریدان» یې تر سره کوي، محافظت شي، کولای شي د ژبپوهنې لپاره خورا ګټور تمام شي.

**۳.پوښتنه:**تاسو کاملاً سم وایاست چې د بورژوازي او پرولتاریا افکار، مفاهیم، عادتونه او اخلاقي آرونه له یو بل سره مستقیماً متضاد دي. د دې پدیدې طبقاتي ځانګړتیا، ښکاره ده چې د ژبې په سمانتیک اړخ (او ځینې وختونه د ژبې پر شکل ـ د کلیمو پر زیرمې ـ څرنګه چې ستاسو په مقاله کې په سمه توګه ورته اشاره شوی) اغیزه کوي. د ژبپوهنې د خاصو موادو او په سر کې د ژبې د سمانتیک اړخ د شننې پر مهال، آیا کولای شوو د هغو مفاهیمو له طبقاتي منځپانګې خبرې وکړو چې د ژبې په وسیله څرګندیږي، په تیره بیا په هغو مواردو کې چې ژبه نه یوازې د انساني افکارو د څرګندونې لپاره کارول کیږي، بلکې په ورته وخت کې د واقعیت په اړه د انسان چلند هم ښکاره کوي، هغه چلند چې په کې د انسان طبقاتي پیوستون او نژدې والی په ښکاره توګه څرګندیږي؟

**ځواب:** که دا خبره نوره هم راڼده کړو، نو غواړی چې پوه شئ چې آیا طبقات پر ژبه اغیزه لري؟ آیا هغوې خپلې ځانګړي کلیمې او اصطلاحات ژبې ته معرفي کوي؟ آیا داسې بیلګې شته چې خلک دې د خپل طبقاتي تړاو له مخې یوې ټاکلې کلیمې او یا اصطلاح ته بیلابیلې ماناګانې وکاروي؟

هو، طبقات پر ژبه اغیزه کوي، خپلې ځانګړې کلیمې او اصطلاح ګانې ژبې ته دننه کوي او کله هم له یوې او ورته کلیمې او اصطلاح څخه بیلابیلې ماناګانې اخیستل کیږي. په دې کې کوم شک نشته دی.

سره له دې، خاصې کلیمې او اصطلاح ګانې او همدا ډول په سمانتیک کې توپیر، نشي کولای د ټولو خلکو لپاره د عامې واحدې ژبې د پرمختیا په برخه کې جدي اهمیت ولري، او یا دا کلیمې او اصطلاح ګانې دې وتوانیږي چې د ژبې اهمیت کم او ځانګړتیا یې وربدله کړي.

لومړی، دا ډول خاصې کلیمې او اصطلاح ګانې او همدا ډول د سمانتیک توپیروالی په یوه ژبه کې ډیر کم دی، چې په سختۍ سره د ټولې ژبې ان یوه سلنه جوړوي. نو ویلی شوو، چې نژدې ټولې کلیمې او اصطلاح ګانې، همدا ډول سمانتیک یې، د یوې ټولنې ټولو طبقو لپاره عامتیا لري.

دویم، ځانګړي کلیمې او اصطلاح ګانې چې لږ طبقاتي رنګ لري، له کوم «طبقاتي» ګرامري قواعدو سره (چې البته شتون نلري) په خبرو کې نه کارول کیږي، بلکې د ټولو خلکو لپاره د شته ژبې د ګرامري قواعدو مطابق کارول کیږي.

نو د همدې لپاره، د خاصو کليمو او اصطلاح ګانو شتون او د ژبې په سمانتيک کې د توپير واقعيت، نه يوازې چې د ټولو خلکو لپاره د عامې واحدې ژبې شتون او اړتيا نه ردوي، بلکې برعکس دا اړتيا تاييدوي.

**۴.پوښتنه:** تاسو په خپله مقاله کې په سمه، **مار** د مارکسيزم مبتذل کوونکی ارزولی دی. آيا دا په دې مانا ده چې ژبپوهان، زموږ په ګډون، ځوان ژبپوهان، بايد د مار د ژبپوهنې ټول ميراث رد کړي، د هغه چا ميراث چې د ژبپوهنې په برخه کې د ډيرو ارزښتمنو څيړنو وياړ لري؟ (ملګرو چيکوباوا، سانژيف او نورو کله چې بحث پيل شو، په دې اړه ليکنې کړي دي). آيا له مار سره د انتقادي چلند له امله نشو کولای له هغه، څه چې ګټور او ارزښتمن دي، واخلو؟

**ځواب:**ښکاره ده چې د ن. ی. مار آثار يوازې له تيروتنو ډک نه دي. کله چې هغه په ژبپوهنه کې د مارکسيزم عناصر په تحريف شوي ډول وکارول، کله چې هغه کوښښ وکړ چې د ژبې يوه خپلواکه تئوري وړاندې کړي، ډيرې سترې تيروتنې يې وکړی. خو ن.ی.مار يو شمير ښه، ماهرانه او پاخه ليکل شوي آثار لري چې په کې يې خپله تئوريکه ادعا هيره کړی، بيلابيلې ژبې يې په منصفانه ـ او بايد ووايو په استادانه ـ توګه تر شننې لاندې نيولي دي. په دې ډول آثارو کې کولای شوو داسې ډير شمير شيان پيدا کړو چې ارزښتناکه او ښوونيز دي. ښکاره ده چې بايد دا ارزښتمن او ښوونيزه شيان د ن.ی. مار له آثارو واخيستل شي او وکارول شي.

**۵.پوښتنه:** ډير شمير ژبپوهان، *فورماليزم* د شوروي ژبپوهنې د غړندتيا له عمده لاملونو يو لامل ګڼي. موږ ډير ليوال يوو چې ستاسو په نظر پوه شوو چې په

ژبپوهنې کې فورماليزم څه ته وايي او څنګه کولای شوو پر هغه برلاسي شوو؟

**ځواب:** ن. ی. مار او «مریدان» يې ټول هغه ژبپوهان چې د ن.ی. مار «نوی ډکټرين» نه مني، په «فورماليزم» تورنوي. ښکاره ده چې دا تور بې بنسټه او نامعقول دی.

ن. ی. مار، ګرامر يوه تشه«فورماليته» ګڼي او هغه کسان چې ګرامري سيستم د ژبې بنسټ ګڼي، ورته فورماليستان وايي، چې دا کاملاً احمقانه ده.

فکر کوم چې «فورماليزم» د «نوي ډکټرين» د ليکوالانو لخوا اختراع شوی چې په ژبپوهنې کې د خپلو مخالفينو په وړاندې خپله مبارزه آسانه کړي.

د شوروي د ژبپوهنې د غړندتيا لامل د ن.ی مار او د هغه د «مریدانو» لخوا اختراع شوی «فورماليزم» نه دی، بلکې په ژبپوهنه کې آراکچيفي رژيم او تئوريکی نيمګړتياوی دي. آراکچيفی رژيم د ن.ی.مار د «مریدانو» لخوا رامينځته شو. په ژبپوهنه کې تئوريکه سرګرداني د ن.ی. مار او د هغه د نژدې همکارانو لخوا رامينځته شوه. د غړندتيا پای ته رسولو لپاره بايد هم آراکچيفي رژيم او هم تئوريکه سرګرداني له مينځه لاړه شي. د دې طاعوني ټپونو ليرې کول به د شوروي ژبپوهنه ورغوي، سمې لارې ته به يې برابره کړي او د شوروي ژبپوهنه به قادره کړي چې د نړۍ په ژبپوهنې کې لومړی ځای خپل کړي.

**۲۹ جون، ۱۹۵۰**

پراودا، ۴ جولای، ۱۹۵۰

# ملګرو ته ځواب

## ملګري سانژيف ته

ښاغلی ملګری سانژيف،

ليک ته مو له ډير ځنډ وروسته ځواب وايم، ځکه چې همدا پرون يې ستا ليک د مرکزي کميټې له سيستم څخه ما ته راوليږد. بې له شکه د ګړدودونو په اړه زما دريځ مو په سمه توګه تفسير کړی دی. «طبقاتي» ګړدودونه چې ښه به دا وي چې خاصې کليمې او اصطلاحات ونومول شي، د پرګنو لخوا نه کارول کيږي، بلکې د ټولنې د اوچتني کوچني قشر لخوا کارول کيږي. سربيره پر دې ګړدودونه خپل ګرامري سيستم او د کليمو بنسټيزه زيرمه نلري. له دې امله، دا ګړدودونه شونتيا نه مومي چې خپلواکو ژبو ته دې بدلې شي.

خو بل اړخ ته، سيمه ايزه («محلي») ګړدودونه، د پرګنو لخوا کارول کيږي او خپل ګرامري سيستم او د ځانګړو کليمو بنسټيزه زيرمه لري. له دې کبله ځينې سيمه ايزه ګړدودنه د ملتونو د جوړيدو په بهير کې دا شونتيا لري چې د ملي ژبو لپاره بنسټ چمتو او خپلواکو ملي ژبو ته پرمختيا ومومي. د ساري په توګه د روسي ژبې د کورسک ـ واريول ګړدود (کورسک ـ واريول «خبرې») چې د روسي ملي ژبې بنياد يې جوړ کړ. همدا ډول دا خبره د اوکرائيني ژبې د پولتاوا ـ کيف ګړود په اړه هم سمه ده چې د اوکرائنيي ملي ژبې لپاره يې بنسټ جوړ کړ. خو د دې ژبو نورو ګړدودونو، خپله اصيلتيا ورکه کړه، له دغو ژبو سره يوځای شول او په هغوې کې ورک شول.

معکوس بهير هم رامينځته کيږي، کله چې د اقتصادي پرمختګ د اړينو شرايطو د نشتون له امله يو مليت په ملت نه بدليږي، د دغه مليت واحده ژبه د

ملیت د دولت د تجزیې په پایله کې له منځه ځي. خو سیمه ایزه ګړدودنه، چې لا یې وخت نه دی موندلی چې په واحده ژبه کې په بشپړ توګه ورته والی ومومي، بیا راژوندی کیږي او د جلا خپلواکو ژبو د جوړیدو لپاره بنسټ جوړوي. ممکن، دا بیلګه د ساري په توګه دمنګولیایي واحدې ژبې په اړه صدق وکړي.

**۱۱جولای ، ۱۹۵۰**

پراودا، ۲ اګست ، ۱۹۵۰

**ملګرو د. بلکین او س. فورر ته**

ستاسو لیکونه مې تر لاسه کړل.

تیروتنه مو په دې کې ده چې تاسو دوه بیلابیلې موضوعګانې سره ګډې کړې دي او ملګري کراشنینیکوا ته زما د ځواب د بحث موضوع مو له بلې موضوع سره بدله کړې ده.

۱. ما په هغه ځواب کې پر ن.ی. مار، چې له ژبې (وینایي ژبې) او له فکر سره سر او کار لري او ژبه له فکر جلا کوي او په دې ډول ایډه الیزم ته ولیږي، نیوکه کړې وه. د همدې لپاره په ځواب کې مې هغو نورمالو انسانانو ته اشاره وه چې د خبرو استعداد لري. زه د پخوا په پرتله لا ډیر باورمن یم چې د دې شان انسانانو تفکر یوازې د ژبني مصالحو پر اساس رامینځته کیږي او لوڅ افکار، چې له ژبني مصالحو سره تړاو نلري، د هغو خلکو په منځ کې چې د خبرو استعداد لري، شتون نلري.

تاسو د دې په ځای چې دا نظریه ومنئ یا یې هم رد کړئ، له غیر عادي انسانانو څخه غږیږئ، هغه خلك چې ژبه نلري، کاڼه او ګونګیان دي او له ژبې بې برخې دي. نو، ښکاره ده چې د هغوې فکر د ژبې د مصالحو پر بنسټ نه رامینځته کیږي. څنګه چې ګورئ، دا موضوع بیخي بله موضوع ده چې ما تر بحث لاندې نه ده نیولې او نیولی یې هم نشم، ځکه چې ژبپوهنه له هغو عادي انسانانو سره تړاو لري چې د خبرو استعداد لري، نه له هغو غیر عادي کاڼه ـ ګونګیانو سره چې د خبرو کولو استعداد نلري.

تاسو د بحث موضوع له یو بل مطلب سره چې زموږ د بحث موضوع نه ده، بدله کړې ده.

۲. د ملګري بلکین له لیك څخه څرګندیږي چې هغه د « الفاظو ژبه» (وینایي ژبه) د «حرکتونو او اشارو له ژبې» (د مار په اصطلاح: د«لاسي» ژبې) سره برابر ګڼي. داسې ښکاري چې هغه فکر کوي چې د حرکتونو او اشارو ژبه او د الفاظو ژبه یو ډول اهمیت لري او کله چې انساني ټولنې د الفاظو ژبه نه درلوده، «لاسي» ژبې د الفاظو د ژبې پر ځای، چې وروسته رامینځته شوه، کار کاوه.

که ملګری بلکین په ربښتیا هم دا ډول فکر کوي، نو لویه تیروتنه کوي. وینایي ژبه یا د الفاظو ژبه تل د بشري ټولنې یوازینۍ ژبه ده چې کولای شي د خلکو د اړیکو د مناسبې وسیلې په توګه کارنده ووسي. تاریخ داسې انساني ټولنه، ان ډیره وروسته پاتې ټولنه، نه پیژني چې خپله ځانګړی وینایي ژبه ونلري. توکمپیژندنه (ایتنوګرافي) داسې یو وروسته پاتی قوم نه پیژني چې خپله وینایي ژبې یې نه وي درلودلي، که په تیرې پیړۍ کې د استرالیایانو او یا هم د تییرا دل فیګو[16] په شان لرغوني او ان ډیر لرغوني قومونه هم وي. د بشریت په تاریخ کې، وینایي ژبه یو له هغو ځواکونو څخه وه چې له انسانانو سره یې مرسته وکړه چې د ژویو له نړۍ بیل شي، په ټولنو کې سره راټول شي، خپل د فکر کولو استعداد پرمختللی کړي، ټولنیز تولید تنظیم کړي، د طبیعي ځواکونو په وړاندې بریمنه مبارزه مخې ته بوځي او ننني پرمختګ ته چې یې لرو، ورسیږي.

---

[16]. تییرا دل فیګو، په لاتینه امریکې کې پرته سیمه ده چې اوس د ارجانتین او چیلي تر منځ ویشلی شوی ده. دا سیمه، چې د «اور ځمکې» په نامه یادیږي، یو له هغه لرغونو سیمو څخه ده چې تر ټولو پخواني انسانانو په کې ژوند درلود ـ ژ.

د همدې لپاره، په اصطلاح د حرکتونو او اشارو ژبه، چې هیڅ ډول بډاینه نلري او محدودیتونه یې هم زیات دي؛ اهمیت یې هم ډیر کم دی. که ښکاره وغږیږو، ژبه ورته ویلی نشوو، ان د ژبې هغه ځایناستې هم نه ګڼل کیږي چې په یو ډول نه یو ډول د وینایي ژبې پر ځای وکارول شي. که څه هم له زیاتو محدودو امکاناتو برخمنه ده، خو د یوې مرستندویه وسیلې په توګه یې انسان کله ناکله د خپلو خبرو پر دې ټکي یا هغې ټکي د ټینګار لپاره کاروي. څرنګه چې ساده لرګین رمبی د یوي له یو پرمختللي پنځه پاله ځنځیري تراکتور یا د تخم شیندنې له تراکتور سره نشي پرتله کیدلی، همدا ډول د حرکتونو او اشارو ژبه هم له وینایي ژبې سره د پرتلې وړ نه ده.

څرنګه چې معلومیږي تاسو لومړی له کڼو ـ ګونګیانو سره لیوالتیا لرئ او بیا د ژبپوهنې له مسئلو سره. داسې ښکاري چې دقیقاً همدې وضعیت هڅولی یې چې یو لړ پوښتنې له ما وکړئ. ښه خبره ده، که تاسو ټینګار کوئ نو زه مخالف نه یم چې هیله مو پوره کړم.

د کڼو ـ ګونګیانو په تړاو موضوع څنګه ده؟ آیا دوې د فکر کولو استعداد لري؟ آیا کولای شي افکار وزیږوي؟ هو، هغوې د فکر کولو استعداد لري، په هغوې کې افکار رامینځته کیږي. ښکاره ده چې له هغه ځایه چې کاڼه ـ ګونګیان د خبرو له استعداده بې برخې دي، د هغوې فکر د ژبني مصالحو پربنسټ موجودیت نه مومي.آیا دا موضوع نه ښکاره کوي چې د کڼو ـ ګونګیانو افکار بربنډ دي او له «طبیعي معیارونو» (د مار اصطلاح) سره تړاو نلري؟ نه، داسې نه ده. د کڼو ـ ګونګیانو افکار یوازې د هغو انځورونو، احساساتو او تصوراتو پر بنسټ راڅرګندیږي او شتون لري چې په ورځني ژوند کې د بهرنۍ نړۍ د اشیاو او د هغوې تر منځ د اړیکو له لارې د دوې په افکارو کې رامینځته کیږي. ښایي د باصرې، لامسې، ذائقې او شامې حواسو

منندوی ووسو. افکار له دې انځورونو، احساساتو او تصوراتو پرته، تش او له محتوای محرومه دي او د همدې لپاره هم شتون نلري.

**۲۲ جولای، ۱۹۵۰**

پراودا، اګست ۲، ۱۹۵۰

## ملګري ا. خولوپف ته

لیک دې راورسید.

د ډیرې بوختیا له امله په ځواب ورکونې کې وځنډیدم. لیک دې په ضمني ډول له دوو فرضونو سره ادامه مومي: لومړی فرض دا دی چې کولای شوو د دې یا هغه لیکوال له آثارو څخه خبره نقل کړو، بی له دې چې دا په پام کې ونیسو چې دا خبره له کوم تاریخي پېر سره اړیکه لري. دویم فرض دا دی چې د مارکسیزم دا یا هغه فورمول او استنباط، چې د یو تاریخي پېر د پرمختیا د مطالعې پایله ده، د ټولو تاریخي پېرونو لپاره سمه ده او د همدې لپاره باید ثابت وساتل شي.

ښايي ووایم چې دواړه فرضونه په بشپړ توګه ناسم دي.

دا هم څو مثالونه:

۱ـ د تیرې پیړۍ په څلویښتمو کلونو کې، کله چې لا انحصاري پانګوالي موجوده نه وه، کله چې له کم او زیات نرمښت سره پانګوالۍ صعودي پرمختګ درلود او هغو نويو ټاټوبو ته يې پراختيا مونده چې لا اشغال شوي نه وو او د پانګوالۍ د ناموزون پرمختيا قانون لا په بشپړه توګه پلي شوی نه و؛ مارکس او انګلس دې پایلې ته ورسیدل چې سوسیالیستي انقلاب په یو ټاکلي هیواد کې بریا ته رسیدلې نشي او یوازې په ټولو یا په ډیرو متمدنو هیوادونو کې د عمومي ضربې په پایله کې دا انقلاب بریالی کیدای شي. دا پایله، وروسته ټولو مارکسیستانو ته په یو لارښود آر بدل شو.

خو، د شلمې پیړۍ په لومړیو، په ځانګړې توګه د لومړی نړیوالې جګړې په بهیر کې، کله چې ټولو ته روښانه شوه چې غیر انحصاري پانګوالي په څرګند

ډول انحصاري پانګوالۍ ته پرمختیا موندلئ، کله چې هسکېدلې پانګوالۍ په مړیژنې پانګوالۍ بدله شوه، کله چې جګړې د نړیوالی امپریالیستي جبهې نه رغیدونکی کمزورتیاوې ښکاره کړئ او د پرمختیا نامتوازنه قانون دا وښوده چې پرولتاریایی انقلاب په بیلابیلو هیوادونو کې په بیلابیلو وختونو کې تر سره کیدای شي؛ لنین د مارکسیستي تیوري پر بنسټ دې پایلې ته ورسید چې د پرمختیا په نوي شرایطو کې، سوسیالیستي انقلاب په یو جلا هیواد کې هم بشپړې بریا ته رسیږي. لنین دا وښوده چې په ځینو او یا ټولو متمدنو هیوادونو کې د سوسیالیستي انقلاب هم مهاله بریا په دغه هیوادونو کې د انقلاب د نامتوازنه ودې له امله ناشونی ده او د مارکس او انګلس زوړ فورمول له اوسني تاریخي شرایطو سره نور د مطابقت وړ نه دی.

څرنګه چې ښکاري، دلته موږ د سوسیالیزم د بریا د مسئلې په اړه دوه بیلابیلې پایلې لرو چې نه یوازې د یو بل متناقضې دي، بلکې ان یو بل نفی کوي.

هغه مټکوران او تلمودیان [۱۷] چې د یوې موضوع په منځپانګې کې له تعمق او تاریخي شرایطو پرته په میکانیکي ډول خبره رانقلوي، امکان لري چې ووایي

---

[۱۷]. تلمود: د یهودانو هغه کتاب دی چې په کې د یهودو د هغو سنتونو او د موسی د شرایع تفسیر شامل دی چې یهودو علما او روحانیونو د اجتهاد په توګه پر تورات لیکلي دي. د دې سربیره په دې کتاب کې تاریخي پیښې او اسطورې هم شاملې دي.

تلمود په دوه ډوله دی: یو د اورشلیم تلمود دی چې د څلورمی زیږدیزی پیړۍ شاوخوا تالیف شوی او بل د بابل تلمود دی چې په شپږمه پیړۍ کې تالیف شوی دی. یهودان، دا کتاب له تورات وروسته، یو مقدس کتاب ګڼي.

دلته له تلمودیانو موخه، هغه کسان دي چې د تیوریګانو سره د منطقي چلند پر ځای دګماتیستي چلند کوي.

چې له دې دوو پايلو يوه يې مطلقاً غلطه او بايد ليرې واچول شي، په داسې حال کې چې بله يې مطلقاً سمه او د پرمختيا پر ټولو پېرونو بايد يو ډول تطبيق شي. مارکسيستان دا کار نه کوي، خو په دې پوهيږي چې مټکوران او تلموديان تيروتنه کوي. مارکسيستان دا کار نه کوي، خو په دې پوهيږي چې دا دواړه پايلې سمې دي، خو نه په مطلق ډول؛ هره پايله د خپل مهال لپاره سمه ده: د مارکس او انګلس پايله د غير انحصاري پانګوالۍ د دورې لپاره او د لنين پايله د انحصاري پانګوالۍ د دورې لپاره.

۲ـ انګلس په خپل «انتي دورينګ» کتاب کې ويلي دي چې له سوسياليستي انقلاب وروسته، دولت د زوال لپاره چمتوالی نيسي. زموږ په هيواد کې د سوسياليستي انقلاب له بريا وروسته، په ګوند کې مټکوران او تلموديان د دې غوښتونکي شول چې ګوند بايد د دولت د ژر زوال، د دولتي سازمانونو د انحلال او له دايمي پوځ څخه د تيريدنې لپاره قدمونه پورته کړي.

خو، د نړيواله شته وضعيت د مطالعې له مخې، د شوروي مارکسيستان دې پايلې ته ورسيدل چې د پانګوالۍ له کلابندۍ سره، کله چې يوازې په يو هيواد کې سوسياليستي انقلاب بري ته رسيدلی او په نورو ټولو هيوادونو کې پانګوالي واکمنه ده، د دې لپاره چې دغه هيواد د پانګوالۍ د کلابندۍ په وسيله ونه ځپل شي، د بريمن انقلاب ټاټوبی نه بايد کمزوری شي، بلکې بايد په هره برخه کې خپل دولت، د دولت ارګانونه، استخباراتي ارګانونه او پوځي ارګانونه پياوړي کړي.

روسي مارکسيستان دې پايلې ته ورسيدل چې د انګلس دا فورمول هغه وخت سم دی چې سوسياليزم په ټولو او يا ډيرو هيوادونو کې بريا ته ورسيږي؛ حال دا چې دا فورمول په داسې شرايطو کې د تطبيق وړ نه دی چې سوسياليزم يوازې په يو هيواد کې بري ته رسيدلی او په نورو ټولو هيوادونو کې پانګوالي واکمنه وي.

ښکاره ده چې دلته د سوسياليستي دولت د برخليک په اړه دوه فورمولونه لروو، چې هر يو بل نفي کوي.

مټکوران او تلموديان ممکن ووايي چې دا ډول وضعيت نه زغميدونکی شرايط رامينځته کوي، ښايي يو له دې فورمولونو څخه د مطلق غلط فورمول په توګه ليرې واچول شی او بل فورمول ـ د مطلق سم فورمول په توګه ـ د سوسيالستي دولت د پرمختيا په ټولو مهالونو تطبيق شي. مارکسيستان دا کار نشي کولای، خو په دې پوهيږي چې مټکوران او تلموديان په غلطه دي. دا دواړه فورمولونه، سم دي؛ خو نه په مطلق ډول، هر يو يې د خپل وخت لپاره سم دی: د شوروي مارکسيستانو فورمول په يو او يا څو هيوادونو کې د سوسياليزم د بريا پر مهال سم دی، خو د انګلس فورمول د هغه وخت لپاره سم دی چې په بيلابيلو هيوادونو کې د سوسياليزم مداومه بريا په ډيری هيوادونو کې د سوسياليزم د بريا لامل او د دغه فورمول د تطبيق لپاره اړين شرايط رامينځته شوي وي.

د دې مثالونو شمير زياتولی شوو.

د ژبې د مسئلې په تړاو هم دغه شان دوه بيلابيل فورمولونه صدق کوي. هغه فورمولونه چې د ستالين له بيلابيلو آثارو اخيستل شوي او د ملګري خولوپف په ليک کې رانقل شوي دي، د ستالين «د ژبپوهنې په اړه د مارکسيزم ليد»

اثر ته مراجعه کوي. د دې مراجعې پایله دا ده چې د دوو ژبو د امتزاج له امله، معمولاً یوه ژبه بریالی کیږي او بله ژبه نابودیږي او دا چې د دوو ژبو امتزاج، نوې ژبه ـ دریمګړې ژبه ـ نه زیږوي، بلکې له دې ژبو څخه یوه ژبه خوندي پاتې کیږي. هغه بیا د شوروي اتحاد د کمونیست (بلشویک) ګوند شپاړسمې کنګرې ته د ستالین ګزارش ته مراجعه کوي چې په کې ویل کیږي چې په نړیواله کچه د سوسیالیزم د بریا په دوران کې، کله چې سوسیالیزم پیاوړی کیږي او د ورځنی ژوند برخه ګرځي، ملي ژبې په ناچاره په یوې عامې ژبه کې ګډیږي، چې ښکاره ده دا ژبه نه ولیکاروسي[18] ژبه ده او نه هم الماني ژبه، بلکې یوه نوې ژبه به وي. د دې دوو فورمولونو په پرتله والي لیدل کیږي چې دا دوه فورمولونه نه یوازې دا چې له یو بل سره اړخ نه لګوي، بلکې یو بل نفي کوي، د دې وضعیت په لیدو سره ملګری خولوپف نهیلی کیږي. هغه په خپل لیک کې کاږي:«ستا له مقالې په دې پوه شوم چې د ژبو له امتزاج څخه **هیڅکله** د نوي ژبې رامینځته کیدنه شوني نه ده، خو د مقالې مخکې، د شوروي اتحاد د کمونیست (بلشویک) ګوند په شپاړسمه کنګره کې ستاسو د وینا له مخې مې کلکه عقیده درلوده چې په کمونیزم کې ټولې ژبې په یوه عمومي ژبه کې ګډیږي.»

ښکاره ده چې په دې دوو فرمولونو کې د تناقض د کشفولو وروسته او په دې کلک باور درلودل چې دا تناقض باید له مینځه لاړ شي، ملګری خولوپف د دې اړتیا ویني چې له دې فرمولونو څخه یو یې باید د غلط فورمول په توګه لیرې واچول شي او بل یې د ټولو پېړونو او هیوادونو لپاره د سم فورمول په

[18]. ولیکاروسان (لوی روسان) چې منظور په خپله روسان دي. روسانو له انقلاب مخکې ځان ته ولیکاروس او اوکرائینیانو ته یې «مالوروس» (کوچني روسان) او بلاروسانو یې «بلوروس» (سپین روسان) ویل. ژ

توګه کلک ونیول شي، خو دا چې کوم فورمول باید کلک ونیول شي، هغه ورباندې نه پوهیږي. د دې وضعیت پایله نهیلیتوب دی. ملګری خولوپف ان شک نه کوي چې کیدای شي دواړه فورمولونه سم وي، خو هر یو د خپل وخت لپاره.

متکوران او تلمودیان چې د موضوع ماهیت نه پلټي، په میکانیکي ډول او د هغو تاریخي شرایطو پرته خبرې رانقلوي چې خاصو تاریخي شرایطو سره تړاو لري. د همدې لپاره دوی په نهیلۍ اخته کیږي. که چیرې یو څوک د موضوعاتو منځپانګه تر ارزونې لاندې ونیسي، نو هیڅکله به په نهیلي اخته نشي. حقیقت دا دی چې د ستالین «د ژبپوهنې په اړه د مارکسیزم لید» رساله او د ګوند په شپاړسمې کنګرې کې د ستالین وینا، دوه بشپړ جلا پېرونو په پام کې لري او د همدې لپاره دوه مختلف فرمولونه وړاندی کیږي.

هغه فورمول چې ستالین په خپله رساله کې وړاندی کړی او په کومه برخه کې  چې د ژبو له امتزاج غږیږي، موخه یې په نړیواله کچه د **سوسیالیزم د برې دمخه** پېر دی، کله چې زبیښاګګرې طبقې په نړۍ کې له واکمنه ځواکمنتیا برخمنی دي؛ کله چې ښکیلاک او ملي ستم په خپل قوت پاتی دی؛ کله چې د دولتونو تر منځ د اختلافاتو له امله د ملتونو تر منځ ملي جلاتوب او دوه اړخیزه بی اعتمادي په خپل ځای کلکه پاتی ده؛ کله چې د ملي حقوقو تساوی شتون نلري ـ څرنګه چې اوس یې نلري؛ کله چې د ژبو امتزاج، د یوې ژبې د واکمنتیا لپاره د مبارزې له لارې تر سره کیږي؛ کله چې د ملتونو او ژبو تر منځ د سوله ایزې او دوستانه مرستې لپاره اړین شرایط نه وي ـ څنګه چې اوس نشته؛ او کله چې د ژبو متقابله مرسته او بډاینه، چې ورته اړتیا ده، نه وي، بلکې ځینې ژبې مدغم  او ځینې ژبې بریالي کړای شي؛ نو ښکاره ده چې په داسې شرایطو کې یوازې غالبې او مغلوبې ژبې لرلی شوو.

دقیقاً همدا شرایط دي چې د ستالین فورمول یې په پام کې نیسي کله چې وایي چې د ژبو د امتزاج ـ د ساري په توګه د دوو ژبو د امتزاج ـ پایله نه یوه نوې ژبه، بلکې د یوې ژبې بریا او د بلې ژبې ماته ده.

د ستالین دویم فورمول، چې په یوې عامې ژبې کې د نورو ژبو ادغام ته په کې اشاره شوی او د ګوند شپاړسمې کنګرې ته د هغه له وینا څخه اخیستل شوی، بل پېر په پام کې لري: په نړیواله کچه **د سوسیالیزم د بریا وروسته** پېر؛ کله چې نور نړیوال امپریالیزم شتون نه لري؛ کله چې زبېښناکګرې طبقې نابودې شوي او د ملي ستم او ښکیلاک جرړې ویستلې شوي؛ کله چې ملي جلاتوب او متقابلې بې اعتمادۍ خپل ځای متقابل اعتماد او د ملتونو تر منځ حسنه اړیکو ته پرېښودی؛ کله چې د ملتونو برابري پلي شوی؛ کله چې د ژبو د ځپلو او ادغامولو سیاست نور منسوخ شوی؛ کله چې د ملتونو تر منځ مرسته رامینځته شوی او ملي ژبو ته دا شونتیا برابره شوی چې د ګډې مرستې له لارې په آزاده توګه یوه او بله بډایه کړي؛ نو ښکاره ده چې په دې شرایطو کې نور د ځینو ژبو ځپل او نابودول او د ځینو ژبو بریا د پوښتنې وړ هم نه ده. په دغسې پېر کې موږ نور دوه ژبې نه لرو، چې یوه یې په مبارزه کې ماته زغمي او بله یې بریالی راوځي، بلکې سلګونه ملي ژبې لرو چې له مینځه به یې د ملتونو د اوږدې اقتصادي، سیاسي او کلتورې مرستو په پایله کې لومړی تر ټولو بډایه او متحده سیمه ایزه ژبې راڅرګندیږي او ورپسې به دا سیمه ایزه ژبې په یوې واحدې نړیوالې ژبې کې ګډیږي؛ ښکاره ده چې دا ژبه به نه الماني وي، نه هم روسي، نه هم انګلیسي، بلکې یوه نوې ژبه به وي چې د ملي او سیمه ایزه ژبو ښه عناصر به یې جذب کړي وي.

دوه جلا فورمولونه چې د ټولنې د پرمختيا له دوو بيلابيلو پېرونو سره تړاو لري او دقيقاً د دې لپاره چې دواړه فورمولونه د دوو پېرونو سره تړاو لري، نو دواړه فورمولونه سم دي ـ خو هر يو د خپل پېر لپاره.

دا غوښتنه چې دا فورمولونه دې له يو بل سره تناقض ونلري او يو بل نفي نکړي، هماغومره بابيزه ده لکه چې وغوښتل شي چې د پانګوالۍ د واکمنۍ پېر دې د سوسياليزم د واکمنۍ له پېر سره تناقض ونلري او نبايد سوسياليزم او پانګوالي دې يو بل نفي کړي.

متکوران او تلموديان، مارکسيزم او د مارکسيزم جلا پايلې او فورمولونه د متعصبانه عقايدو هغه ټولګه ګڼي چې د ټولنې د پرمختيا له شرايطو سره «هيڅکله» بدلون نه مومي او د بدلون په وړاندې مقاومت کوي. دوې باور لري که چيرې دا پايلې او فورمولونه په ښه توګه زده کړي او په تصادفي ډول يې نقل کړي نو دوې به د هرې ستونزې د حليدو توان ولري؛ خيال کوي چې په حافظه کې د دې پايلو او فرمولونو ثبتول به وکړاي شي چې دا پايلې او فورمولونه به د ټولو مهالونو او هيوادونو او د ژوندانه ټولو برخو لپاره کارنده ووسي. خو، دا به يوازې د هغو کسانو باور وي چې د مارکسيزم ليکنې ګوري خو منځپانګه يې نهويني، دوی کولای شي مارکسيزم له ياده زده کړي، خو په مانا يې نه پوهيږي.

مارکسيزم، د طبيعت او د ټولنې د پرمختيا د قوانينو علم، د ستمځپلو او استثمار شويو ولسونو د انقلاب علم، په ټولو هيوادونو کې د سوسياليزم د بريا علم، د کمونيستي ټولنې د جوړولو علم دی. مارکسيزم د علم په توګه نشي کولای ثابت پاتی شي، پرمختيا مومي او بشپړيږي. مارکسيزم د خپلې پرمختيا په ترڅ کې نشي کولای د تازه تجربو او نويو معلوماتو په وسيله بډايه نشي او په دې

توګه ځينې فورمولونه او پايلې يې د وخت په تيريدنې سره خپل ځاى نويو فورمولونو او پايلو ته ونسپاري، هغه فورمولونه او پايلې چې له نويو تاريخي دندو سره اړخ لګوي. مارکسيزم داسې پايلې او فرمولونه نه مني چې د ټولو دورو او پېړونو لپاره ثابت وي. مارکسيزم د هر ډول دګماتيزم دښمن دى.

**جولاى ۱۸، ۱۹۵۰**

پراودا، ۲ اګست، ۱۹۵۰

د تولید لا پرمختګ، د طبقاتو پیدایښت، د خط او کتابت معرفي کیدل، د دولت راڅرګندیدنه چې د خپلې اداري لپاره یې کم او زیات یوې منظمې مکاتبې ته اړتیا درلوده، د سوداګرۍ پراختیا چې لا هم زیاتې منظمې مکاتبې ته اړمنه وه، د چاپ ماشین پیدایښت، د ادبیاتو پرمختګ؛ دا ټول د ژبې په پرمختیا کې د سترو بدلونونو لامل شول. په دې موده کې قبیلې او ملیتونه سره تجزیه شول، سره مخلوط شول، قطعه قطعه شول؛ چې وروسته بیا ملي ژبې او دولتونه رامینځته شول، انقلابونه تر سره شول او د زړو ټولنیزو سیستمونو ځای نوي سیستمونو ونیو. دا ټول په ژبې او د هغه په پرمختیا کې د لا زیاتو بدلونونو لامل شول.